المرصـــاد خپروندویه اداره



## د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: فکري ارمغان
ليکوالان: بېلابېل
موضوع: د داعشي خوارجو رد، ديني، سياسي، جهادي او دېته ورته نور مختلف او بېلابېل موضوعات
ژبه: پښتو
ګڼه: څلورمه
وړاندې کونکې: المرصاد خپرندويه اداره

ALMERSAAD

# فکري ارمغان

په معاصره نړۍ- په ځانګړې توګه په اسلامي هېوادونو کې د روانو سياسي حالاتو، د مسلمانانو په وړاندې د نړېوالو کفريا و صليبي قوتونو له لوري د پلان شويو شومو پلانونو، احتمالي پېښو، ننګوونو، رقابتونو، معاصرو فتنو، داعشي خوارجو او همداراز د نورو نويو باطلو پديدو، افکارو او خوځښتونو په اړه

د بېلابېلو اسلامپالو ليکوالانو، جيدو ديني علماوو، محللينو او شنوونکو د مختلفو ديني، تاريخي او سياسي څېړنو، تحقيقاتو، مقالو او آثارو

ټولګه

څلورمه ګڼه

# لیکلړ


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د المرصاد مهالنۍ تبصره | ۱ |
| ۲ | پر جعفر ایکسپریس برید ؛ ګوته ولې افغانستان ته ونیول شوه؟ | ۱ |
| ۳ | لومړی فصل | ۲ |
| ۴ | د امت نومیالي | ۳ |
| ۵ | د مولوي محمد ایاز شهامت تقبله الله ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه ! | ۴ |
| ۶ | د تنکـــي شـــهید طالـــب العلـــم ســـمیع الله "امـــر الله" تقبلـــه الله ژونـــد او کارنامو ته لنډه کتنه | ۷ |
| ۷ | دویم فصل | ۱۰ |
| ۸ | خوارج العصر | ۱۰ |
| ۹ | اسلامي نړۍ او د تکفیر فتنه ! | ۱۱ |
| ۱۰ | داعشیان د خپلو زنداني مېرمنو پر سر تجارت کوي ! | ۱۵ |
| ۱۱ | د داعش وروسته امنیت؛ زلزله څپلو ته بېخنده مرستې رسونه ! | ۱۷ |
| ۱۲ | د امریـــکا لـــه وتلـــو د داعـــش تـــر نابـــودۍ؛ د افغانســـتان د اســـتقامت یـــوې څنډې ته کتنه ! | ۱۹ |
| ۱۳ | د امریکا او داعش زوال؛ افغانستان کې د امنیت د نوي فصل پیل ! | ۲۱ |
| ۱۴ | درېیم فصل | ۲۴ |
| ۱۵ | دیني او جهادي لیکنې | ۲۴ |
| ۱۶ | د اسد ۲٤مه؛ د اسلامي حکومت سره د بیعت تړون ! | ۲۵ |
| ۱۷ | دا د شهادتونو خاوره ده... دا د سرونو د نذرانو خاوره ده ! | ۲۷ |
| ۱۸ | له لاسه تللې نیمه پېړۍ! | ۳۱ |

۱۹ د ډیموکراسۍ او اسلام فکري او عقیدوي تقابل ! ۳۴
۲۰ ولې د اسلامي امارت دفاع کوم؟ ! ۳۶
۲۱ څلورم فصل ۳۹
۲۲ سیاسي او ټولنیزې لیکنې ۳۹
۲۳ نړۍته نه منونکی تحول؛ د لیست د سر خلك پای ته راغلل ! ۴۰
۲۴ کنړ کې د ا.ا.ا سرتیرو بې ساري هلې ځلې ! ۴۴
۲۵ د سنبلې ۹مه، د اشغال وروستۍ شپه او د حریت د سپېدو پیل ! ۴۶
۲۶ د سنبلې ۹مه؛ د پوځي جګړې پای او د کلتوري جګړې پیل ! ۴۸
۲۷ آزاد کشمیر که د پوځي لوبو میدان؟ ۵۰
۲۸ د ملګرو ملتونو غونډه؛ د پاکستان نه ختمېدونکې بې ځایه روایت ۵۸
۲۹ د اسد ۲٤مه؛ د اشغال پای، د عزت پیل ! ۶۲
۳۰ شهید اختر محمد منصور، هغه څوك چې د تاریخ په څیر ثابت قدمه و ! ۶۴
۳۱ د افغانستان له غرونو څخه د تاریخ تر زړه پورې ! ۶۵
۳۲ نړیواله جنایي محکمه کوم عدالت پلی کوي؟ ! ۶۸
۳۳ پنځم فصل ۷۰
۳۴ بېلابېلې لیکنې ۷۰
۳۵ د کابل فتحه؛ د امریکا پر تابوت وروستۍ میخ ! ۷۱
۳۶ داعش او د بلوڅانو قتل عام ۷۴
۳۷ سومالیا کې د پیسو د نه ورکړې په سر د داعش کواښونو له امله سوداګریز ځایونه تړل شوي ۷۷

# د المرصاد مهالنۍ تبصره

## پر جعفر ایکسپریس برید؛ ګوته ولې افغانستان ته ونیول شوه؟

د پاکستان حکومت په بلوچستان کې په جعفر ایکسپریس د برید نه وروسته سمدستي په ټولنیزو رسنیو کې دا بیانیه خپرول شروع کړل چې ګواکې د دې برید تر شا د افغانستان لاس دی او یا دا برید په افغانستان کې پلان شوی و او مرکزي کردارونه یې هم همالته مېشت دي.

وروسته د ټولنیزو رسنیو د دغه بې اساسه ادعاوو د پاکستان د دولت د رسمي موقف بڼه خپله کړه او د بهرنیو چارو د وزارت ویاند یې هم ورته بیان ورکړ، هسې خو چې ماضي ته وګورو نو پاکستان همیشه ځیله ناکامي په نورو اچولې ده او دا د پاکستان د فوج همیشنی عادت دی چې تل یې پرې خپل خلك غولولي دي.

پاکستان د تېرو څو لسیزو دا روایت خپراوه چې د بلوچ آزادي غوښتونکو سره د هندوستان لاس دی او هغوی ورته لوژستیك او سیاسي سپورټ ورکوي خو اوس یې افغانستان ته ګوته ونیوله. د پاکستان د دې بې اساسه دعوې تر شا عوامل څه دي؟

د پاکستان استخباراتي ادارو د دغه دروغجنې بیانیې تر شا خو یو هغه "پاپولر نیریټیو" یا مشهوره بیانیه ده چې دوی د تېرو دوو کلونو راهیسې د افغانستان خلاف خپله کړې چې غواړي افغانستان د خپلو ټولو ناکامیو زمه دار ثابت کړي او ځان د خپلو خلکو له انتقاد څخه وژغوري.

بل د دې لپاره چې د افغانستان په شواهدو ولاړ موقف کمزوری وښايي دوی د "بلیم ګیم" لوبه لوبوي. د معلوماتو له مخې پاکستان ته په خصوصي توګه دا معلومات ورکړل شوي دي چې په شهید حاجي خلیل الرحمن برید د پاکستان څخه رهبري شوی وو او بریدګر له بلوچستان څخه افغانستان ته راغلی و.

همدغه راز په کندز کې په کابل بانك برید هم د پاکستان څخه رهبري او بریدګر له پاکستان څخه راغلی و، سربېره پر دې په تېر کال کې چې په افغانستان کې څومره بریدونه شوي وو، هغه ټول د پاکستان څخه رهبري شوي وو. د دې ټولو په اړه پاکستان ته ویل شوي او شواهد هم ورسره شریك شوي دي، نو له همدې

امله په بلوچستان کې په ریل ګاډي باندې له برید څخه وروسته پاکستان متقابلاً ادعا وکړه چې د برید ماسټر مائینډ په افغانستان کې وو.
بله خبره دا ده چې پر مولانا حامدالحق د برید له وجې چې داعشیانو ترسره کړ، پاکستان تر زیات انتقاد لاندې راغی او په بلوچستان کې چې د داعشیانو کوم مشران ونیول شول او پاکستان یې د هغوی له جملې شریف الله امریکا ته وسپاره او د نورو په سر یې له ایران او روسیې سره معامله روانه کړې، هم پاکستان تر زیاتو انتقادو لاندې دی او ویل کیږي چې پاکستان دوه مخې لوبه شروع کړې ده.
په پاکستان کې د داعش خراسان څانګې د مراکز وجود او د پاکستان لخوا د هغوی د مدیریت مهار او د خرڅلاو د لوبې د شروع کیدو په اړه افغانستان وخت په وخت نړۍ ته خبرداری ورکړی او د دوی دا لوبه یې رسوا کړې ده، نو څکه وس په مقابل کې پاکستان په افغانستان تورونه لګول پیل کړي دي.
بل دا چې داسې هیڅ کوم څمکنی حقیقت نشته چې د هغې په بنیاد وویل شي چې ګنې اسلامي امارت دې د بلوچانو تر شا ودریږي څکه د امارت اسلامي فکر او نظریه له بلوڅ آزادي خوښونکو سره توپیر لري. د بلوچانو جد و جهد د قوم پرستی له نظریې سرچینه اخلي او د امارت اسلامی منهج خود رڼا ورځې په شان روښانه او واضح دی.
نو دا یو روڼ حقیقت دی چې د پاکستان د دې بې اساسه بیانیې تر شا د خپلو ناکامیو نه فرار، په خپله خاوره د داعش له مرکزونو نه توجو اړول او په نړیوال سیاست کې خپل اهمیت او حیثیت ساتلو هڅې دي.

# لومړی فصل
# د امت نومیالي

## د مولوي محمد اياز شهامت تقبله الله ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه !

د مينـې او ايثـار دنـګ منـار، د اخلاقـو نمونـه او د کـونـړ د غرونـو زمـری شـهيد، سـعيد مولـوي محمـد ايـاز شـهامت د محمـد شـريف زوی، پـه ۱۳۷۵ هــ ش کال د کنـړ ولايـت د غـازي آبـاد ولسـوالی، د نيشـه کام د کلـي پـه يـوه ديـنـداره او متديـنـه کورنـی کـې د فانـي نـړۍ تـه سـترګې وغړولـې، پـه ماشـومتوب کـې يـې د جومـات پـه لـوړي پـه کوچنيـو قدمونـو تـګ راتـګ پيـل کـړ، د خپـل کلـي لـه ملا امـام څخـه يـې لومړنـي دينـي او عقيـدوي درسـونه ولوسـتل، بيـا د شـکې ولسـوالی ضياءالقـران مدرسـه کـې داخـل شـو، هلتـه يـې د دينـي درسونو دوره بشپړه کړه او د فضيلت دستار يې پر سر کړ.

دا چـې د شـهيد شـهامت (تقبلـه الله) روزنـه پـه يـو دينـي ماحـول کـې ترسـره کېـده او د ايمـان بنسـټ يـې لـه قـوي ريښـو څخـه سـرچينه اخيسـته، الله عزوجـل د ويښ او لړزېدونکـي وجـدان څخـه برخمـن کړخولـی وو، ده پـه داسـې وخـت کـې د ځوانـۍ پـه درشـل قـدم کېښـود، چـې هېـواد يـې د غربـي ښـکلاک لـه لـوري تـر بشـپړ اشـغال لانـدې وو، د مظلومانـو مظلوميـت، د کونـډو فريادونـو، د تـور سـرو عفـت او د دينـي مقدسـاتو توهيـن نـور دې تـه پرېنښـود، چـې آرامـه او سـوکاله ژونـد انتخـاب کـړي، هغـه و چـې پـه خـورا کـم عمـر کـې يـې د جهـاد او مبـارزې کرمـو سـنګرونو تـه ځـان ورسـاوه، هغـه دوولـس کلـن و چـې د اشـغالګرو پروړانـدې يـې ټوپـک تـه لاس کـړ او د ژونـد تـر پايـه يـې بيـا دغـه سـنګر خالي نه کړ.

د اشــغالګرو ســره د مقابلــې پــه پــار يــې (۹) کالــه خپــل کلــی او کــور پرېښــود، د مجاهدينـو سـاحې د څوکـی کلـي تـه يـې هجـرت وکـړ، هغـه يـو فعالـه، تکـړه او زړور مجاهـد وو، پـه يـوه شـپه کـې يـې پـه يـوازې ځـان د اربکيانـو او اردو (٦) نفـره د ليـزر پـه مټ و وژل او (۳) نـور يـې زخميـان کـړل، د اشـغالګرو پـر وړانـدې يـې هـر سـنګر ښـه پـه مېړانـه وپالـه، د خپلـې ولسـوالی پـه اکثريـت کمينونـو، تعرضونـو او عملياتـو کـې يـې لـه خپلـو مجاهدينـو ورونـو سـره اوږه پـه اوږه برخـه اخيسـته، د داعشـي خوارجـو پـر وړانـدې يـې دريـغ خـورا سـخت و، همـدا وجـه وه چـې د کونـړ ولايـت اکثريـت ولسـواليو تـه پـه تشـکيل ولاړ او ډېرې سيمې يې د دوی له شتون څخه پاکې کړې.

د جهـادي سـفرونو پـه بهيـر کـې پـه لومـړي ځـل د کنـړ ولايـت شـيګل ولسـوالی تـه پـه تشـکيل ولاړ، د شـيګل ولسـوالي يـو لـه هغـه ځايونـو څخـه وه، چـې خوارجـو پکـې عـملا حضـور درلـود، هلتـه يـې لـه دواعشـو سـره سـينه پـه سـينه مقابلـه وکـړه او زياتـې سـيمې يـې د دوی لـه شـتون پاکـې کـړې، څـه مـوده وروسـته لـه يـادو عملياتـو بېرتـه کـور تـه راسـتون شـو، دمـه يـې لا نـه وه جـوړه کـړې، چـې يـو ځـل بيـا دغـه سـتړي مجاهـد تـه د تـك امـر وشـو، دا ځـل مانوګـي ولسـوالی سـاريکل سـيمې تـه ولاړ، هلتـه هـم د خوارجـو داعشـيانو پروړاندې ښه په مېړانه وجنګېده.

درېيـم ځـل وتـه پـور ولسـوالی تـه پـه تشـکيل ولاړ، دغـه د حـق علـم بـردار، چـې د اسلام پـر سـپېڅلې لاره کلـك ولاړ وو، د فتنـه ګـرو خوارجـو پـر وړانـدې يـې هلتـه د حـق بيـرغ پورتـه کـړ، نـه يـې د هغـوی ظاهـر پسـنده تقـوا تـه غـاړه کېښـوده، نـه يـې د هغـوی د تنـدروی لـه وېـرې شـاته ګـام واخېسـت، د قـرآن او سـنتو پـر بنسـټ يـې د خوارجـو باطـل فکـر افشـا کـاوه، د امـت يووالـی يـې سـتر آرمـان و او د تفرقـې پـر وړانـدې يـې کلـك مقاومـت کـاوه، هغـه پوهېـده چـې خـوارج د ديـن لـه روحيـې، فکـر او عقيـدې بـې برخـې خلـك دي، نـو پـه حکمـت، پوهـه او د ارتيـا پـه صـورت کـې يـې پـه تـوره د هغـوی فسـاد تـه ځـواب ورکـاوه، د ده مبـارزه نـه يـوازې يـو سياسـي دريـځ و، بلکـې يـو ايمانـي رسـالت و، چـې د اسلام د ريښتينې او زړور مجاهد په توګه يې اداء کاوه.

څلـورم ځـل د کنـړ ولايـت مانوګـي کړنـګل سـيمې تـه پـه تشـکيل ولاړ، پـه کړنـګل کـې د لنډيـګل پـه خـط کـې د خوارجـو لـه يـو ملا سـره يـې پـه مخابـره کـې مناظـره وکـړه، داعشـي تـه يـې پـه خپلـو قـوي دلايلـو سـره ماتـه ورکـړه، دا چـې د هغـه وخـت د جنـګ اميـر محتـرم قـاري صاحـب ضياءالرحمـن وو، د دې بريالـی مناظـرې پـه بـدل کـې يې شهيد، سعيد ته (۲۰۰۰) افغانی جايزه ورکړه.

نومـوړی مجاهـد (تقبلـه الله) پـه ډېـرو سـنګرونو کـې لـه خوارجـو سـره مخامـخ شـو، زيـات شـمېر داعشـيان يـې بنديـان هـم کـړل او پـه هـر ځـای کـې يـې د دواعشـو پـر خلاف دعـوت او تبليـغ چلاوه، د ده کورنـی هـم زيـات شـمېر مجاهديـن درلـودل، کلـه بـه چـې د خوارجـو تشـکيل تـه تللـو نـو د کـور څخـه بـه يـې پنځـه نفـره تشـکيل تـه تلـل، يـو يـې ورور، يـو د تـره زوی او دوه وربېرونـه او د اشـغالګرو پـه خلاف يـې هـم سـنګر ګـرم سـاتلی و، لـه کورنـی څخـه يـې (٦) نفـره شـهيدان ورکـړل او ورور يـې محمـد بشـير هـارون د قطعـې

قوماندان وو.

بالاخره دغه د ښو اخلاقو څښتن او خنده رویه مجاهد، سهار وختي له کور څخه د دندې په لورې، چې د اووم کنډك د اول ټولي قوماندان و، د څوکی ولسوالی د بابړو بېزته روان شو، پر لاره د فتنکرو داعشیانو له خوا د ځای پرځای شوي ماین په انفجار کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېد او دری ملګري یې زخمیان شول د هغه له جملې څخه یو تن مجاهد تر اوسه پورې معیوب دی، نحسبه کذالك والله حسیبه.

د شهادت نیټه: (۱/۲/۱۴۴۴) یکشنبې ورځ د سهار نهه بجې.

## د تنکي شهيد طالب العلم سميع الله "امر الله" تقبله الله ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

د سپېڅلي صف او سپېڅلو لارویانو له قطاره وتلی زلمی شهید سعید سمیع الله "امرالله" تقبله الله د ارواښاد حاجي قاسم جان زوی د لوګر ولایت برکي برك ولسوالۍ د توریخلو د کلي په یوه مجاهده، متدینه او درنه کورنۍ کې په ۱۳۷۷هـ ش کال دې فاني نړۍ ته سترګې وغړولې.

د دیني زده کړو پیل یې له خپل ورور مرحوم مولوي عبدالمتین "رشیدخېل" څخه وکړ، بیا د څلوزیو په لېسه کې شامل شو، مګر امرالله تقبله الله د درسونو په جریان کې فاني نړۍ ته شا واړوله او خپل وروستي آرمان ته وصل شو.

شهید سمیع الله تقبله الله د اسلامي امارت تر قیادت لاندې، د شهید مولوي حبیب الرحمن "فتح الله" تر مشرتابه لاندې د "الاهي کاروان" د ډلکی یو فداکار، مخلص او هوډمن مجاهد و. له ورکتوبه یې د مجاهدینو سره مینه لرله، له هماغه وخته به یې د اسلحو پاکولو، د باروتو او تجهیزاتو ځای پر ځای کولو، د شپې د استوګنځای برابرولو او نورو خدمتونو له لارې د جهاد په مبارك بهیر کې برخه اخیسته.

له زلمیتوب سره سم یې د جهاد عملي سنګر ته هم په ډېره مینه او اخلاص لاره پیدا کړه او له خپلو مجاهدینو ملګرو سره یې اوږه په اوږه په پوره متانت او مېړانه د جهاد سنګرونه هم پالل.

اوس وار د دې رارسېدلی و، چې د خپل دوښمن پروړاندې خپلې متې لا نورې مظبوطې کړي، نښه رسا وویشتلی شي او جنګي تکتیکونه خپل کړي، همغه وو چې د اعداد په موخه یې په سختو او پېچلو لارو په سختو او ترینګلو حالاتو کې تیرا ته سفر وکړ او د ابو عبیده بن جراح (رض) په معسکر کې یې د اعداد د فریضې ادا ینه په نصیب او څلوېښت ورځنی اعداد یې بشپړ کړ.

له اعداد وروسته؛ سمدستي یې د یو بل سخت او پېچلي سفر تابیا ونیوه، د غرب له لوري په کار اچول شوې پروژه، د اسلام له نومه استفاده کوونکو خوارجو، په ننګرهار ولایت کې ورځ تر بلې کلي، درې او ولسوالۍ تر خپلو ناولو قدمونو لاندې

کـول. قومـي سـپین ږیـري او مشـران یـې پـه بمونـو الـوزول، د مؤمنـو او عزتمنـو مسـلمانانو خویندې/میندې بـه بـې عزتـه کېدلـې، خلـك لـه خپلـو کورونـو تېښـتې تـه اړ شـول، پـه پـوره ولایت یـوه مرکونـې خپسـه ناسـته وه، د ژونـد خوندونـو او رنګونـو کـډه وکـړه او د ننګرهـار د غرونـو هـر کانـی او بوټـی د مؤمنـو مجاهدینـو او مظلومـو ولسـي وګـړو پـه وینو سره شول.

دې حالاتـو سـمیع الله تقبلـه الله اسـتراحت تـه پرېنښـود او د خوارجـو د مقابلـې لپـاره ننګرهار ولایت ته په تشکیل ولاړ.

هلتـه یـې یـوه نیمـه میاشـت لـه دواعشـو سـره سـینه پـه سـینه جهادي مبـارزه وکـړه، ډېـرې سیمې یـې د دوی لـه شـتون څخـه پاکـې کـړې. کلـه چـې تشـکیل لـه ننګرهـار ولایت څخـه بېرتـه را روان شـو، پـه اززه کـې د امارتـي پـه نـوم د یـو داعشـي لـه کسـانو سـره مخامخ او محاصـره یـې کـړل او تـر یـو څـه محاصـرې او جنـګ وروسـته امارتـي ننګرهـار تـه وتښـتېده، یـو شـمیر ملګـري یـې تسـلیم شـول او یـو شـمېر یـې و وژل شـول. لـه د غـه ناځاپـي پېښـې څخه سمیع الله جان روغ رمټ راووت.

لـه دې خونـړۍ پېښـې وروسـته، شـهید سـمیع الله خپـل اصلـي ټاټوبـي تـه راسـتون شـو او یـو ځـل بیـا یـې د لوګـر ولایـت پـه سـنګرونو کـې مبـارزه تـه ادامـه ورکـړه. بالاخـره، د ۱۳۹٤ هـ ش کـال د میـزان پـه ۱۷مـه نېټـه، هغـه مهال چـې ټولـه ورځ یـې د اسلامـي سـنګر د ساتنې پیـره کـړې وه، د داخلـي مزدورانـو پـه ناځاپـي بریـد کـې شـهید شـو. د ده مبـارك جسـد د ولسوالی مقام ته یوړل شو. نحسبه کذلك والله حسیبه.

تـر شـهید محمـد جاویـد سـرحدي وروسـته سـمیع الله جـان تقبلـه الله د همـدې جهادپالـې کورنـۍ دوهـم شـهید و، چـې خپلـې پاکـې وینـې یـې د مبارکـې طیبـې کلیمـې د لوړاوي او د اسلامي نظام د اقامې په پار تویې کړې. تقبله الله.

څرنګـه چـې شـهید سـمیع الله امـرالله پـه نیکـو او لـوړو اخلاقـو سـمبال مجاهـد و، نـو همدومـره زیاتـې خاطـرې هـم لـري. یـوه ورځ د توریخیلـو پـه کلـي وحشـیانه چاپـه د یرغلګـرو لخـوا د داخلـي مزدورانـو پـه ملتیـا ووهـل شـوه او ټـول کلـی د شـپې لـه خـوا د یرغلګـرو او ګوډاګیانـو لخـوا محاصـره شـو او فضـاء هـم مختلفـو الوتکـو اشـغال کـړې وه، کلـه چـې سـهار شـو شـهید سـمیع الله جـان خپلـه اسـلحه ور سـره واخیسـته او د دښـمن پـه طـرف ور روان شـو. دښـمن بـه معمـولاً د کلـي پـه داسـې کورونـو کـې ځـان ځـای پـه ځـای

کولو، چې هم به حاکمه نقطه وه او هم به محفوظ وو او د کلي عام خلك به يې د سپر په شکل له ځانه تاوول، تر څو د مجاهدينو هدف ونه ګرځي. خو شهيد سميع الله جان ډير په دقت سره او تنها د هغوی خواته نيږدې کمين ونيوه او په لوړ تاکتيك يې پرې ناڅاپي بريد وکړ، په نتيجه کې يې يو يرغلګر ځای پر ځای د جهنم ابدي کندې ته وصل کړ او يو داخلي سپېشل فورس يې ژوبل کړ.

يرغلګرو او غلامانو يې داسې فکر وکړ، چې زيات شمېر مجاهدينو پرې تعرض کړی، ځکه يې هرې خواته د خفيفه او ثقيله اسلحو پيرونه کول او شهيد سميع الله په داسې شکل ترې راستون شو چې د غازي لقب يې کټلی و.

دې تنکي شهيد له شعر او شاعرۍ سره هم ليوالتيا لرله او د خپلې کورنۍ په لمرنۍ شهيد سرحدي او نورو ملګرو پسې يې يو شعر هم جوړ کړی او هم يې په خپله خوږه لهجه زمزمه کړی و، اما ژوند يې بيخي لکه د مازديګر زيړی لمر داسې و او ډېر ژر د شهيدانو له رنګين کاروان سره يو ځای شو.

نحسبه کذالك والله حسيبه.

# دويم فصل
# خوارج العصر

# اسلامي نړۍ او د تکفير فتنه !

ليکوال: نعمان سعيد

د اسلامي نړۍ په تاريخ کې د مسلمانانو تکفير او د همدې فکر پر اساس جګړه او د مسلمانانو وژنه کومه نوې خبره نه ده؛ بلکې دا پخوانۍ سلسله ده، چې د امير المؤمنين حضرت علي کرم الله وجهه پر ضد د خوارجو بغاوت، تکفير او د مسلمانانو وژل يې تاريخي نمونې يادولی شو.

دې خوارجو نه يوازې دا چې د حضرت علي او حضرت معاويه رضي الله عنهم ترمنځ د مصالحت حکم او د ثالث ټاکل يې کفر باله؛ بلکې د کبيره ګناه مرتکبين، عام مسلمانان يې هم مرتد ګڼل او د هغوی وژنه يې ضروري بلله، د خوارجو په دې باب استدلال د قرآن کريم په ظاهر هم نه؛ بلکې د خپل فکر او خود ساخته تفسير له مخې و.

يادو خوارجو د قرآن کريم له تلاوت سره دومره زياته علاقه لرله، چې هماغه د صحابه کرامو په وخت کې به خلکو ورته "د قاريانو ډله" ويل، کله يې چې بصره قبضه کړه، شاوخوا شپږ زره کسان يې ووژل؛ نو دا قبضه "پر بصره د قاريانو قبضه" په نامه باندې تعبير شوه.

له بصرې وروسته د خوارجو يو مشهور قوماندان "ضحاك" د کوفې په ښار هم يرغل وروړ او هغه يې قبضه کړ، بيا د کوفې جامع جوماتت ته ننوت، توره يې پورته کړه او د خپلو زرکونو وسلوالو په منځ کې يې اعلان وکړ: د کوفې ټول خلك بايد يو په يو زما مخې ته راشي او له خپل کفر څخه توبه وباسي، که نه نو زه به دلته هم لکه بصره ټول خلك ووژنم، ضحاك غوښتل، چې د بصرې په څير وحشت په کوفه کې هم تکرار کړي؛ خو د امام ابوحنيفه رحمه الله حوصله، تدبير او حکمت وو، چې د ضحاك خارجي د پلان مخه يې ونيوله، که نه په کوفه کې د بصرې د غميزې تکرار حتمي و.

د دغې پېښې تفصيل مولانا مناظر احسن ګيلاني رحمه الله د "امام ابوحنيفه ح

سیاسـي ژوند" پـه نـوم کـتـاب کـې کـړی، چـې لنډيـز يـې دا دی: لـه اعلان نـه وروسـته امام صاحـب رحمـه الله لـه کـوره را ووت، جومـات تـه لاړ او د ضحـاك مخـې تـه ودريـد، پـه خبـرو کـې يـې لـه هغـه نـه وپوښتل: تـا د کـوفـې د خلکـو د وژلـو حکـم ولـې ورکـړی؟ ضحـاك ورته وويل: ځکه دا خلك مرتد شوي دي او مرتد بايد و وژل شي.

امـام صاحـب ورتـه وويـل: مرتـد هغـه څـوك دی، چـې خپـل ديـن پرېـږدي او بـل ديـن غـوره کـړي؛ د کـوفـې خلـك خـو همـاغـه عقيـده لـري، پـه کـومـه عقيـده چـې پيـدا شـوي وو، دوی خپل دين نه دی بدل کړی؛ نو په دوی د مرتد فتوا کول بې اساسه ده.

د امـام صاحـب د غـه خبـره د ضحـاك پـر زړه ولګېده او ويـې ويـل: "اخطأنـا" (مـوږ خطـا شـوي يـو) بيـا يـې خپلـه تـوره تيـتـه کـړه او خپلـو ملګـرو تـه يـې هـم امـر وکـړ، چـې تـورې شـکـته کـړي، پـه دې توګـه د کـوفـې خلـك د خوارجـو لـه قتـل عـام څخـه وژغـورل شـول، هغـه وخـت چـې د خوارجـو لخـوا د تـکـفيـر، قتـل او قتـال فتنـې او د مرکـونـو وسـيع بـازار ګـومره ګـرم و؛ دا زموږ د تير تاريخ د څو ترخو بابونو څخه يو تريخ باب دی.

نـن ورځ د همـد غـه تـکـفيـري فکـر يـوې نـوې څپـېـزې د اسلامـي نـړۍ ډېـرې حساسـې سيمې تـر پوښـښ او پوکـس لانـدې نيولـې دي او اسلام دښـمن قوتونـه تـرې پـه منظمـه کـتـې پورتـه کـوي او دا حالـت دومـره وخيـم شـوی، چـې د اسلامـي امـت علمـاء، پوهـان او مغـز متفکـره طبقه ورته حيرانه او له شره يې په هيڅ ځای کې هيڅ مسلمان فکرا امن ندي.

معاصـر خـوارج او سـاعين بالفسـاد شـاوخوا پيـړۍ وړانـدې پـه الجزائـر کـې را پيـدا شـول، داسـې چـې د الجزائـر ټولـو اسلامـي تنظيمونـو او خوځښـتونـو د "اسلام ژغورنـې جبهـه" پـه نـوم ګـډ سياسـي اتحـاد جـوړ کـړ او ځانونـه يـې د سـيکـولرانو پـه وړانـدې د الجزائـر د ملـي سياست پياوړې قوه وګرځوله.

دې جبهـې د الجزائـر انتخاباتـو کـې برخـه واخيسـتـه او د انتخاباتـو پـه لومـړۍ مرحلـه کـې يـې شـاوخوا ۸۰٪ سـلنـه رايـې وګـټلـې، دې پايلـې نړيـوال سـيکـولر قوتونـه سـخت حيـران کـړل او د دې لـړۍ د مخـه نيولـو لپـاره يـې بيلابيـل اقدامـات وکـړل، انتخابـات ودرول شـول او پوځ واك په لاس کې واخيست.

لـه دې وروسـته د اسلامـي خوځښـتونو د کـمـزوري کـولـو او لـه منځـه وړلـو لـړۍ پيـل شـوه، چـې د دې کـار لپـاره يـې هـر ډول ظلمونـه وکـړل او ډول ډول دسيسـې جـوړول يـې هـم پيـل کـړل، چـې يـوه سـتره دسيسـه يـې همـدا خارجـي فکـر را منځتـه کـول و، ترڅـو د اسلامـي

خوځښتونو ترمنځ د تکفیر فکر خپور شي او د خپلمنځي جګړو محاذونه جوړ شي.
افسوس ! چې په دې دسیسه کې بریالي شول او نتیجه دا شوه، چې د یوې لسیزې په موده کې نږدې سل زره بې ګناه مسلمانان ووژل شول.
دردونکې یې بیا دا ده، چې له څېړنیزو ادارو او نړیوالو علماوو نه بار بار غوښتنې شوې، چې د الجزائر د خونړۍ جګړې مستند راپور تیار کړي، ترڅو اسلامي امت، په ځانګړې توګه ځوان کهول د دغسې دسیسو پر وړاندې هوښیار او بیدار وي؛ خو له بده مرغه په اسلامي امت کې د تحقیق، مطالعې، مستنداتو، راپورونو او واقعي معلوماتو د ترلاسه کولو ذوق له منځه تللی، چې تر ننه یې په اړه هیڅ داسې مهم ګام نه دی اخیستل شوی، چې د دغسې مهمو تاریخي څپرکیو کونډ پاتې کیدل به، امت نسلونه نسلونه تاواني کړي.
د الجزائر نه وروسته په مصر، شام، عراق او نورو هېوادونو کې همدا تجربه تکرار شوه، مور ولیدل، چې د شامي او عراقي حکومتي ظلمونو پر ضد راپورته شوې ډلې د تکفیر او قتال هماغه لارې ته څنګه سوق شوې او د خوارجو افکار په څومره مهارت ور تغذیه شول؟.
افغانستان ته همدا پلان و؛ خو لله الحمد اسلامي امارت په ځینو برخو کې قوي ګامونه واخیستل چې په مټ یې سخت پیچلي حالات د ځان په ګټه مدیریت کړل، چې:

1. د اهل السنة والجماعة پرته هر ډول فکري، اصلاحي، مدني او ټولنیزې پروژې یې ختم کړې.
2. ټولې غټې او وړې ډلې، تنظیمونه، مجتمعات او تحریکونه یې کنترول کړل.
3. د ټول هیواد په سطحه یې مذهبي وحدت (حنفي مذهب/ په فقه حنفي به فیصله کیږي) را منځته کړ.
4. د خوارجو افکار، عقاید، ایډیا او تاریخ یې واضح کړ.
5. پر وړاندې منظم او کارنده عملیات ترسره کړل.
6. د خوارجو د ټولو ویرژنونو لپاره علماوو یو تعریف او د ټول لپاره یې یو حکم وړاندې کړ.

چې الحمد لله موږ اوس د یو اسلامي حکومت څښتنان یو، حالت تر نورو ډیر ښه دی،

وسـایل شـته، فرصتونـه او ظرفیتونـه ایجادیږي او هـود کارونـود ترسـره کولـو تـوان ورځ تـر بلـې زیاتیـږي؛ بنـاء د چیغـو، فریادونـو او حسـرتونو وخـت تللـی، د بحـث مباحثـو، مناظـرو او ټاپـو وخـت نـور تیـر دی، لیکـوالان، علمـاء او څیړنیـزې اداري بایـد را وړانـدې شـي، دا دول فتنــې او پــروژې تحقیــق، تدقیــق او مســتندې کــړي، ترڅــو موجــوده امــت او راتلونکــي نسلونه له دې فتنې څخه په امن شي.

# داعشيان د خپلو زنداني مېرمنو پر سر تجارت کوي !

لیکنه: المرصاد اداره

کله چې داعشي خوارجو په ۲۰۱۹ز کال کې د باغوز په جګړه کې ماتې وخوړه او خپلې مېرمنې يې د ملحدو کردانو رحم و کرم ته پرېښودې، کردانو د الهول او روج په نوم کمپونه فعال کړل په يادو کمپونو کې لسګونه زره د داعشيانو مېرمنې او د هغوی کم عمره اولادونه تراوسه پورې ساتل کېږي.

الهول، روج او نور کمپونه د داعشيانو په تنده تور داغ دی، چې دوی يې له خپل تندي په پاکولو کې ناکام شوي دي. له دې سره په څنګ کې، داعشيانو د الهول او روج له کمپونو د پيسو راټولولو وسيله جوړه کړې ده او لسګونه حسابونه يې فعال کړي چې په الهول او نورو کمپونو کې د بندي خويندو په نوم له خلکو پيسې وتروري.

د الهول په نوم د پيسو راټولولو لوبه تر دې حده رسوا شوې چې اوس پخپله داعشيان يو بل رسوا کوي او دعوه کوي چې له دوی پرته نور داعشيان پيسې په شخصي اغراضو مصرفوي.

د بغدادي او هاشمي د بنده ګانو رسوا کوونکي چېنل په نوم يوې رسنيزې منبع، چې د خوارجو پر ضد فعاليت کوي، پر خپلو حسابونو د بنديانو د کمپونو د مرکزي چېنل په نوم د داعشيانو د يوه ټلګرام چېنل پوست خپور کړی دی. ياد چېنل د داعشيانو د شام ولايت د بنديانو د کمپونو د ادارې مربوط بلل کېږي. په پوست کې، ځينې داعشيان د الهول او روج کمپونو په نوم د پيسو په راټولولو او بيا يې په شخصي اغراضو لګولو تورن شوي دي.

د بنديانو د کمپونو د مرکزي چېنل په پوست کې د احمد رأس العين په نوم کس، چې پخپله هم داعشي دی، تورن شوی چې د الهول او روج په نوم مرستې راټولوي خو بنديانو ته يې نه رسوي.

د خوارجو ترمنځ تر دې ورانډې هم د مالي مرستو راټولولو او وېش پر سر جنجالونه رسنيز

شـوي دي. دا جنجالونـه او پيښـې ښـيي چـې خـوارج لـه هـرې ممکنـې لارې، کـه څـه هـم د خپلـو بنـدي خوينـدو او يـا هـم د جهـاد لـه مقـدس نومـه اسـتفاده وي، کوښـښ کـوي چـې د مسـلمانانو پيسـې راټولـې کـړي او بيرتـه يـې د همـاغـه عنـوان پـه بدنامـي کـې اسـتفاده کـړي په کـوم چې يې راټولې کړې وي.

# د داعش وروسته امنیت؛ زلزله ځپلو ته بېخنده مرستې رسونه !

لیکوال: احمدي

د تېرې څو شپې هغه ویجاړونکې زلزله چې د افغانستان ختیځ ولایتونه، په ځانګړې توګه کونړ یې ولړزاوه، په وروستیو کلونو کې یو له تر ټولو وژونکو طبیعي پېښو څخه ګڼل کېږي، دې غمجنې پېښې زموږ د ډېرو هېوادوالو ژوند اخیستی او زرګونه نور یې ټپیان کړي دي، خو د دې ویجاړۍ او درد په منځ کې، د ملي یووالي کیسې او د افغانستان د اسلامي امارت د ځواکونو د نه ستړي کېدونکې خدمتونو د امید او قربانۍ صحنې شودلې.

د زلزلې څخه وروسته، سمدلاسه اسلامي امارت د خپلو ټولو سرچینو او ظرفیتونو په کارولو سره چټک او همغږې غبرګون وښود. د اړوندو چارواکو په امر، ټول امنیتي، خدماتي، روغتیا، ترانسپورټي او خوراکي ټیمونه زیانمنو سیمو ته واستول شول. د ملي اداري د پېښو پر وړاندې د مبارزې لوړپوړي مسئولین شخصاً له مجهزو ټیمونو او اړینو توکو سره د زیانمنو سیمو پر لور وخوځېدل.

د اشغال له بریا وروسته د اسلامي امارت له مهمو لاسته راوړنو څخه یوه په ټول هېواد کې د دوامداره امنیت ټینګښت او د عامه امنیت دښمنو او انحرافي ډلو په ځانګړې توګه د داعش له منځه وړل دي، په تېرو وختونو کې، د دې ناوړه ډلو شتون ډېری وختونه د بشري مرستو مخه نیوله چې بحران ځپلو سیمو ته ورسیږي. دوی سړکونه بندول، پر مرستندویه کاروانونه یې بریدونه کول او د مرستو سرچینې به یې لوټولې.

خو نن ورځ د اسلامي امارت د حاکمیت او بشپړ امنیت له برکته، مرستې د هېواد له کوټ کوټ څخه، حتی له لرې پرتو ولایتونو څخه، پرته له کوم خنډ څخه اغېزمنو خلکو ته رسېږي، که څه هم د زلزلې له امله په ځینو اغېزمنو سیمو کې مواصلاتي لارې بندې شوې وې، خو د مرستې ټیمونو هڅه کوله چې په بشپړ خوندیتوب او د داعش له خطرو پرته، لرې پرتو سیمو ته ورسیږي.

د امنیت په برخه کې دا د پام وړ بریالیتوب د اسلامي امارت د امنیتي ځواکونو د نه

ستړي کېدونکـو هڅـو پايلـه ده، چـې پـه قربانـۍ سـره يـې هېـواد د داعـش د ترهګـريـزو ډلې له شر څخه پاك کړی دی.
د افغانسـتان پـه ختيـځ کـې د ورروسـتی زلزلـې د ناوريـن د مديريـت تجربـې وښـودله چـې د اسلامـي امـارت د هڅـو لـه املـه رامنځتـه شـوی دوامداره امنيـت نـه يـوازې د آرامـی او پرمختـك زمينـه برابـروي، بلکـې د بحـران پـه وخـت کـې د اغېزمنـو بشـري خدماتـو چمتـو کـول هـم ممکـن کـوي. نـن د هېـواد دننـه مرسـتې د ترهګـرو ډلـو لـه ګـواښ پرتـه اړمنـو کسـانو تـه رسـېږي او دا پخپلـه د هغـه نظام د عـزت او اعتبـار ننداره ده، چـې توانېدلـی پـه ټـول هېـواد کـې امنيت ټينګ کړي.
د اسلامـي امـارت د ځواکونـو دې قربانيـو او نـه سـتړې کېدونکـو خدماتـو نـه يـوازې د ډېـرو هېوادوالـو ژونـد ژغورلـی، بلکـې پـه حکومـت يـې د خلکـو بـاور هـم پيـاوړی کـړی او د هېـواد پـه آرامـی او پرمختـك کـې يـې د امنيـت بـې سـاري رول پـه څرګنـده توګـه ښـودلی دی. د دې طبيعـي ناوريـن پـه اداره کولـو کـې د اسلامـي امـارت بريالـی فعاليـت د مسـؤلانه او مهربان حکومتدارۍ يوه بېلګه ښودلې چې د ستاينې وړ ده.

## د امریکا له وتلو د داعش تر نابودۍ؛ د افغانستان د استقامت یوې څنډې ته کتنه!

لیکوال: عزیز

له نن څخه څلور کاله وړاندې، وروستی امریکایي عسکر له افغانستانه ووت؛ هغه عسکر چې د خپلو نورو ملګرو په څېر د خپلو بادارانو په حکم د یوې ناوړه دندې د ترسره کولو لپاره دې هېواد ته راستون شوی وو، هغه دنده چې اساسي موخه یې د دې خاورې د طبیعي زېرمو لوټل او د دې ولس د کلکو عقایدو تالا وهل وو؛ هغه ولس چې د نړۍ د سترو پوځونو پر وړاندې یې کلونه کلونه مقاومت وکړ او دا یې ثابته کړه چې هېڅ زبرځواک ته به تسلیم نه شي.

امریکا چې د دې ملت د ایمان د ماتولو په هیله پر افغانستان یرغل کړی و، د اسلام د مدافعینو او د دې خاورې د ریښتینو بچیانو سره د شلو کلونو پرله‌پسې جګړې وروسته، بالاخره د لوی مالي او انساني زیان منلو له امله دې ته اړ شوه چې له هېواده ووځي. له افغانستانه د امریکا له وتلو وروسته، د هغې ګوډاګی چې د داعش خراسان په نوم په افغانستان کې د جمهوریت د رژیم او اشغال تر سیوري لاندې روزل شوی و، د زوال پر لور وخوځېد.

هغه ناوړه تخم چې په وروستیو کلونو کې په افغانستان کې د امریکا د شتون له امله کرل شوی و، ترڅو د اشغالګرو د بقا توجیه وکړي او د اسلامي امارت د مجاهدینو لیکې په ځینو ولایتونو کې کمزورې کړي؛ هغه کرکه لرونکې ډله چې د پردي تر شا د لوبډیځ په ملاتړ، او په سر کې د اشغالګرې امریکا په مرسته، خپلې ټولې هڅې د سپارل شوو پروژو د عملي کولو لپاره وکارولې.

داعش د ظهور په لومړیو کې په افغانستان کې لکه د نورو هېوادونو په څېر په چټکۍ سره وده وکړه او د پټو ملاتړونو په مرسته وتوانېد چې په ځینو ولایتونو کې د پام وړ سیمې تر خپلې ولکې لاندې راولي، خو ډېر ژر، کله چې امریکا له افغانستانه وتښتېده، دوی هم د نورو امریکایي او لوېدیځو پروژو په څېر لکه بې سرپرسته یتیمان یوازې پاتې شول او په چټکۍ سره د دې ملت د ریښتینو بچیانو لخوا د

خپلو کړنو سزا ته ورسېدل.

په پيل کې که څه هم داسې انګېرل کېده چې امريکا د داعش پروژه د دې لپاره راژوندۍ کړې وه، چې اسلامي نظام بېرته افغانستان ته راستون نه شي او هېواد د فساد او بربادۍ په دلدل کې ډوب وساتي، خو د اسلامي امارت قاطع مبارزه د دې سرطاني ډلې په ورانډې او په افغانستان کې د هغې له منځه وړل د امريکا ټول پلانونه شنډ کړل.

هو ! د دوی د تمو خلاف، داعش خوارج په افغانستان کې له هغه ځواك سره مخ شول چې د نړۍ زبرځواکونو ته يې په خپل تاريخ کې ماتې ورکړې وه؛ داسې ځواك چې د لږو پوځي امکاناتو، خو د راسخ ايمان او عقيدې په وسيله يې د ډېر د ښمنان مات کړي.

دا هم بايد وويل شي چې په دې لړ کې د افغان ولس ونډه، د اسلامي امارت له امنيتي ارګانونو او ځانګړو ځواکونو سره په همکارۍ کې، له پامه غورځول کېدای نه شي؛ هغه همکاري چې د داعش غولول شوي غړي يې دې ته پرېښودل چې په دې خاوره کې ځان ته خوندي ځای ومومي او اړ شول چې له دې خاورې وتښتېږي.

په پايله کې، د افغانستان تجربه دا وښوده چې هېڅ بهرنی ځواك او هېڅ تړلی ګروپ د دې خاورې د خلکو پر اراده او ايمان د واکمنېدو وس نه لري؛ د اسلامي امارت د دقيق مديريت سره يو ځای د افغانانو مقاومت او استقامت دا ثابته کړه چې هره پروژه او نقشه چې د عقايدو د کمزورې کولو او د ولس د هويت د له منځه وړلو پر بنسټ ولاړه وي، د ناکامۍ سره مخ کېږي او برخليك يې پرته له فنا او انزوا بل څه نه وي.

دا ستره لاسته راوړنه نه يوازې د خلکو او هغو ځواکونو ځواك انځوروي چې د دې خاورې له زړه څخه د هېواد د خپلواکۍ او امنيت په ساتلو کې راپورته شوي دي، بلکې د افغانستان ټولو دښمنانو ته يو څرګند پيغام دی: د نفوذ او کډوډۍ رامنځته کولو هر ډول هڅه به د ملت او د هغه د امنيتي ځواکونو د ايمان او يووالي په وړاندې ناکامه شي.

# د امریکا او داعش زوال؛ افغانستان کې د امنیت د نوي فصل پیل!

لیکوال: احسان ساجدي

د ۲۰۲۱ کال د اګست ۳۱مه، هغه ورځ وه چې د امریکا وروستی سرتېري له افغانستان څخه ووت، دا یوازې یوه عادي نظامي وتنه نه وه، بلکې د دوو لسیزو د اشغال پای، د یوې اوږدې جګړې ختم او د افغانستان د سیاسي برخلیك لپاره نوی پړاو وو، د دې ورځې له راتلو سره، اسلامي امارت یوځل بیا د هېواد واك تر بشپړې ولکې لاندې راوست.

## د اشغال پای او خپلواکي

د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر له بریدونو وروسته، افغانستان د نړیوال ائتلاف تر مشرۍ لاندې اشغال شو او د افغانستان اسلامي حاکم نظام یې دړې وړې کړ. دوی غوښتل ترڅو خپل غربي لاس پوڅی نظام او خپل افکار دلته په بشپړه بڼه پلې کړي، خو دا لړۍ شل کاله اوږده شوه، میلیونه افغانان یې متأثره کړل، په زرګونو ځوانان، مشران او کشران یې شهیدان، معلول او معیوب کړل او د افغانستان زیربنا، اقتصاد او امنیت یې له بنسټه متزلزل کړل.

د امریکا د سرتېرو شړل د افغانستان لپاره یوه واقعیاتي خپلواکي وه، ځکه اوس هېڅ بهرنی پوځي ځواك دلته حضور نه لري او بشپړ واك د اسلامي امارت په ولکه کې دی، طالبان چې کلونه د ترهګرو په نوم یادېدل او په وړاندې یې له هر ډول سپکې او درنې وسلې څخه کار واخیستل شو، اما دا چې دوی د همدې هېواد رښتیني بچیان دي او د الله تعالی په لار او د اشغال د پای په غرض یې خپل سرونه نذرانه کړي ول، نو الهي نصرت د دوی مل شو او اوسمهال د واك پر څوکیو ناست او سپېڅلی شرعي نظام یې حاکم کړی دی.

اشغالګرې آمریکا په افغانستان کې، نه یوازې دا چې انساني او بشري کرامات یې تر پښو لاندې کړي ول، بلکې د همدې ترځنګ یې هڅه کوله ترڅو د داعش پروژه هم له هر اړخه تمویل او هڅې یې کړندۍ کړي، داعشي خوارج چې اصلاً یوه غربي او کفري پروژه ده او تل یې هڅه کړې ترڅو د اسلام د رښتینو سپاهیانو او مجاهدینو د

جهاد په مخ کې خنډ وګرځي نو هغوی دې چارې ته په افغانستان کې هم په پراخه پیمانه دوام ورکړی او د اسلامي امارت د مجاهدینو پر وړاندې یې خنډونه او ننګونې رامنځته کړې وې.
داعش چې د غرب (په ځانګړې بڼه د آمریکا) له بشپړ او هر اړخیز ملاتړ څخه برخمن وو، د اسلامي امارت په بیا راتګ او د امریکا په شړلو، سخته ضربه ولیدله او فعالیتونه یې تر ډېره په ټپه ودرېدل، د اسلامي امارت له راتګ څخه وړاندې، داعش ته د هرډول اکمال او تمویل زمینه د بهرنیو له لورې چمتو شوی وه او پراخه هر اړخیز ملاتړ یې کېده. د همدې ډلې سرتېري په هلیکوپټرونو کې له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته انتقالېدل، هر ډول وسله ورکول کېدله، په میلیونو ډالره نغدي مرسته ورسره ترسره کېدلې، په مدارسو، مساجدو، پوهنتونو، کلیو، بانډو، ... کې ورته د تبلیغ او فعالیت پراخه زمینه برابره وه، رسنۍ یې په ولکه کې وې او هر هغه فعالیت یې چې غوښتلو، پرته له کوم ګواښ څخه یې ترسره کاوه.
داعش ډلې هم د پوره او قوي غربي ملاتړ په درلودلو سره، د دې هېواد په وګړو هر اړخیز او نه جبرانېدونکي ظلمونه او تېري وکړل، داسې ظلمونه چې ګویا ډېری کفار به یې هم، د ترسره کولو جرئت او تکل ونه کړي، ماشومان په زانګو کې په چړو حلال شول، قومي مشران او سپین ږیري د ټولو په وړاندې په ماینونو کینول شول او انفجار ورکړل شو، د ځوانانو سرونه پرې او په بازارونو کې ننداری ته وړاندې شول، ښځې په جنسي بردګۍ ونیول شوې، جوماتونه، مدارس، مکتبونه او پوهنتونونه په ماینونو والوځول شول، ودونه او خوشحالۍ په ویر او غم بدلې شوې او بالاخره داسې ناوړه او کرغېړنه کړنه به نه وي پاتې چې داعشنه وي ترسره کړې.
خو الحمدلله د اسلامي امارت په بیا راتګ راتګ سره، شل کلن اشغال پای ته ورسېد او د داعش د ملا تیر ونړېد خصوصاً کله چې وروستی امریکایی سرتیری د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۳۰مه له دې هېواده بهر شو، داعش له یو خوا د عمل په ډګر کې، خپل رښتینی ملاتړ او اکمال کوونکی له لاس ورکړ، دا ځکه هر کله به چې همدا ډله د اسلامي امارت تر فشار لاندې راغله نو په څو دقیقو کې به د هغوی ملاتړ ته، امریکایی الوتکې او پوځیان راورسېدل او له بل خوا، اسلامي امارت په خپلو چټکو اقدامات، وکولای شول ترڅو د همدې ډلې لمن غوځه او فعالیتونه یې په ټپه ودروي.

دا چې اسلامي امارت د حق لارې لاروی، د ولس رښتنی بچی او د ولس له هر اړخیز ملاتړ او الهی نصرت څخه برخمن دی نو په خپلو کوټلو کامونو سره یې وکولای شول ترڅو په ډېر لنډ وخت کې، د داعش ډلې مشران او غړي له منځه یوسي، مالي سرچینې یې پرې کړي، د جلب او جذب مخه یې ډب کړي، د تبلیغاتو لارې یې خنثی کړي او بالاخره هر هغه څه ترسره کړي ترڅو همدا ډله اوسمهال تش په نوم پاتې شي.

په پای کې ویلای شو چې د اسلامي امارت بیا راتګ، د غربي شل کلن ښکېلاک پای، د اسلامي امارت کوټلی کامونه، الهي او ولسي نصرت دا ټول هغه څه دي چې د داعش فعالیتونه او لمنه یې غوځه او له منځه یوړه او په دې هېواد کې له کلونو وروسته، بشپړ امن و سوکالي تأمین کړه

# دریيم فصل
# ديني او جهادي ليکني

# د اسد ۲٤مه؛ د اسلامي حکومت سره د بيعت تړون!

لیکوال: عزیز احمد

د اسـد ۲٤مـه د افغانسـتان پـه معاصـر تاريـخ کـې يـوه مهمـه ورځ بلـل کېـږي، پـه دې تاريخـي ورځ د افغانسـتان سـتړي زړه پـه يـوه نـوي نبـض سـره تـکان پيـل کـړ. پـه دې نـه هېرېدونکـې ورځ، د افغانسـتان زړور ملـت، د کلونـو جهاد، مقاومـت او اسـتقامت وروسـته، يـو ځـل بيـا د اسلامـي حکومـت سـره بيعـت وکـړ. دا تـړون د قلـم او کاغـذ سـره نـه، بلکـې د شـهيدانو پـه وينـو او د خـدای تعالـی جل‌جلالـه د بندکانـو پـه ټينـګ هـوډ سـره ترلاسه شو.

هغـه ورځ کابـل د يووالـي او ايمـان يـوه ښـکلې منظره وه، هغـه سـړکونه چـې يـو وخـت د اشـغال او وېـش سـمبول وو اوس د هغـو کسـانو د ثابـت قدمـه قدمونـو شـاهدي ورکـوي چـې آزادي او اسلام يـې پـه ارمغـان راوړی، پـه هغـه ورځ د ماسپښـين آذان د آسـماني غـږ پـه څيـر و چې د نوي دور د سهار خبر ورکوي.

دغـه بياځلـې بيعـت افغانسـتان خپـل اصلـي لـوري تـه ور وګـرځـاوه، لکـه څنګـه چـې اوبـه تـر وېشـلو وروسـته بيـا سـره يوځـای کېـږي، دغـه ملـت هـم د اسلام غېـږ تـه راپنـاه شـو، نـن چـې دغـه ورځ رايـادوو، پـر همـدې سـپېڅلي بيعـت ټينـګار کـوو؛ ځکـه يـوازې د اسلامي حکومت په سيوري کې عزت او سرلوړي رښتينې مانا مومي.

د همـدې تاريخـي بيعـت پـه برکـت، افغانسـتان نـن د ټولنيـز ژونـد پـه ټولـو ډګرونـو کـې ژور بدلـون تجربـه کـوي، لـه مدرسـو او پوهنتونونـو چـې اوس د متعهـد نـوي نسـل د روزنـې زانګـو ګرځېدلـي، تـر بازارونـو او اقتصـادي مرکزونـو پـورې چـې د «لا الـه الا اللّه» تـر سپېڅلي بيـرغ لانـدې خپلـې چارې پـر مـخ وړي – دا ټـول د دغـه ملـت د راسـخ عـزم نښـې دي، څـو يـو ټولنـه د اسلامـي اصولـو پـر بنسـټ جـوړه کـړي. دا ژور بدلـون چـې ريښـه يـې د ٢٤م اسـد څخـه سـرچينه اخلـي، نـن د حاصـل راوړلـو پـړاو تـه رسـېدلې او ورځ تـر بلـې نـوي پـړاوو تـه پراختيا مومي.

هغـه تاريخـي ورځ نـه يـوازې د اشـغال پـای تـه رسـېدل وو، بلکـې د ملـي ځانبـاورۍ د نـوي دور

پيل هم وو. نن، کله چې موږ تيرو څلورو کلونو ته ګورو، روښانه وينو چې دا ملت، په هغه نه‌ماتېدونکي ترون تکيه کولو سره، د ټولو دسيسو او نړيوالو فشارونو په وړاندې مقاومت وکړ، هغه مقاومت چې موږ يې د ځمکنۍ بشپړتيا په ساتنه، د پريکړې کولو خپلواکۍ او د سيمه‌ييز پرمختګ د لارې په تعقيب کې شاهدان يو، دا ټول د هماغه روحيې پايله ده چې د اسد په ۲۴مه څرګنده شوه.
نن ورځ د اسلامي امت په توګه، زموږ دنده دا ده چې له دې سترې لاسته راوړنې ساتنه وکړو، بايد د کلمې په وحدت او د اسلامي حکومت د بنسټونو په پياوړتيا سره، دغه لاره دوامداره کړو، هغه نسل چې دغه تاريخي بيعت يې په سترګو ليدلی، بايد ارزښتونه يې راتلونکو نسلونو ته وسپاري. موږ بايد په عمل کې وښيو چې دا بيعت يوازې يو شعار نه و، بلکې يو نه‌ماتېدونکی ترون و، د داسې ټولنې د جوړولو لپاره چې د قرآن عظيم‌الشان او د نبوي سنتو پر لارښوونو ولاړه وي، هغه لاره چې زموږ شهيدانو په وينو هواره کړه او موږ يې بايد د علم او عمل په رڼا کې پر مخ يوسو.

## دا د شهادتونو خاوره ده... دا د سرونو د نذرانو خاوره ده!

لیکوال: نعمان سعید

د افغانستان اسلامي امارت د استخباراتو د لوی ریاست د لومړي مرستیال الحاج ملاصاحب تاج میر جواد ـ حفظه الله ـ نوې وینا مې واورېده. دا وینا یې ورمه ورځ د پکتیا په سیدکرم ولسوالۍ کې د شهیدانو د یاد لمانځنې په پار جوړې شوې، لویې جهادي او ولسي غونډې ته کړې ده.

وینا خواوشا ۲۰ دقیقې ده، چې د زماني مقطع له مخې زیات اهمیت او ډیر ارښت لري؛ ځکه ټولو اړخونو ته واضح ځواب دی.

زه یې په اړه ډیر څه نه لیکم؛ ځکه دا وینا زموږ د تحلیل او نظراندازی څخه لوړه ده؛ ځکه دا وینا د اسلامي امارت د یو ایډیالوژیك، دیني، تاریخي، نظامي او رواني اړخونو د ژور درك او پوخ تعبیر د رهبر وینا ده، چې همدغه ډول تحلیلکر ته اړتیا لري.

بهر حال! د زماني مقطع د اهمیت له مخې مجبور یم، چې په اړه یې خپل سطحي فکر او ساده قلم له مخې هڅه وکړم، چې د یادې وینا مهمې برخې په جلا جلا پراګرافونو وویشو او بیا به هر پراګراف په دیني، تاریخي، نظامي او رواني جنګ چوکاټ ته واچوو او په کې نغښتي پیغامونه به په ګوته کړو.

اول پراګراف: "د لوی الله جل جلاله شکر دی، چې نن مونږ او تاسو په یوه ویاړمنه غونډه کې او د جهاد او مبارزې په یوه مستحکم سنګر کې برخه لرو او دلته سره را ټول شوي یو."

د وینا دا برخه یې د الله جل جلاله په شکر باندې مشتمله ده، چې د الله جل جلاله شکر یو اسلامي اصل دی او دا ښیي، چې هر څه د الله جل جلاله پیرزوینه ده. بیا د "جهاد، مبارزې او سنګر" یادونه یې ته اشاره ده، چې دا خورا لوړ دیني ارزښتونه دي او د مسلمانانو د دفاع او دین د لوړوالي لپاره ترټولو مهم او غوره عمل جهاد دی.

همدا شان دا اصطلاحات د پخوانیو هغه مبارزو تسلسل ته اشاره کوي، چې زموږ دیني او تاریخي میراثونه دي او مجاهدینو ته ور احساسوي، چې تاسو په "مقدس" مأموریت کې

واسـت/ یاسـت او بایـد پاتـې شـئ او دا هغـه څـه دي، چـې د یـو مجاهـد لپـاره د فکـري استقامت د پیاوړتیا مهمه وسیله کڼل کیږي.
غونـډه یـې لـه "سـنګر" سـره تشـبیه کـړې، چـې د غـه تشـبیه قـوي سـمبول دی او دا ښـیي چـې دا یـوازې یـو سـاده ناسـته نـه؛ بلکـې مهمـه مبـارزه ده، دا فقـط یـو عـادي فکـري یـا تولنیـز فعالیت نـه؛ بلکـې نظامـي موقعیـت لـري، چـې بایـد د نظامـي جبهـې غونـډې ارزښـت ورکـړل شي.
**دویـم پراګـراف:** "زمونـږ او ستاسـو پلرونـه او نیکونـه د شـوروپانو، انګـریزانـو او نـورو متجـاوزو او مسـتبدو امپراتوریـو سـره وجنګېـدل او پـه دې سـره یـې د یـوه مسـلمان قـوم پـه حیث باندې د افغانستان بقاء تضمین کړه"
د وینـا د غـه برخـه یـې ښـیي، چـې زمـوږ جنګونـه او مبـارزې ملـي نـه وې؛ بلکـې دینـي وې، چـې د اسلام د مقـدس دیـن او د مسـلمان قـوم د سـپیڅلي هویـت بقـاء یـې اصلـي او مقدسـه موخه وه.
د انګـریزانـو او شـوروپانو لـه اشـغال سـره د مبـارزو یادونـه یـې د افغانـي مبـارزو ویاړمـن تاریـخ تـه یـوه اشـاره ده، چـې دا تعبیـر د نسـلونو ترمنـځ د تسلسـل حـس پیـاوړی کـوي او دا پیغـام ورکـوي، چـې د نـن ورځـې مبـارزې او جهادونـه زمـوږ د پخوانیـو مبـارزو تسلسـل دی؛ بنـاءً کـه بیـا هـم کـوم څـوک غلطـي تکـرار کـړي؛ نـو دا تسلسـل بـه همداسـې ادامـه مومـي؛ ځکه جهادونه او مبارزې زموږ دیني او ملي هویت دی.
**دریـم پراګـراف:** "پـه شـهادت سـره یـو مسـلمان دا ثابتـوي چـې اسلام ورتـه لـه هـر څـه نـه زیات ارزښت لري..."
د وینـا دا برخـه یـې د اسلام او مسـلمانانو لپـاره د یـو مقـدس خونـد (شـهادت) پـه ارزښـت را څرخـي او څـو نقاطـو تـه اشـاره کـوي، یـوه دا، چـې د اسلام لپـاره ځـان قربانـول تـر ټولـو لـوړ ارزښـت لـري، چـې نـه بایـد مجاهـد تـرې دریـغ وکـړي، بلـه یـې د جهـاد او شـهادت ترمنـځ اړیکـه روښـانوي. همـدا شـان د هغـو مجاهدینـو سربښـندونو ارزښـت او اهمیـت تـه اشـاره کـوي، چـې ځانونـه یـې قربـان کـړل او د تاریـخ پـه پاڼـو کـې د اسلامـي ارزښـتونو د پایداری سمبول وګرځېدل.
همـدا شـان ټولـو هغـه دوښـمنانو تـه، چـې شـوم هـدف لـري، یـو پیغـام واضـح پیغـام لیږدوي، چـې تاسـو لـه داسـې خلکـو سـره مـخ یاسـت، چـې پـه دنیـا نـه؛ بلکـې د مـرګ نـه پـه

وروسته ژوند باندې باور لري.
دا د مبارزو لپاره تر ټولو قوي اخلاقي ملاتړ دی؛ ځکه هغه پوځي ځواک، چې له مرګ څخه ویره نلري؛ هغه ته ماتې ورکول سخت وي.
**څلورم پراګراف:** "دا د شهادتونو خاوره ده... دا د سرونو د نذرانو خاوره ده"
د وینا دا برخه یې هم د دغه وطن ویاړمن تاریخ یادونه کوي او هم د مبارزو تقدس بیانوي او دا ثابتوي، چې دغه خاوره د الله جل جلاله په لاره کې د سرونو د شنیدلو ویاړ لري او هیڅوک د دا فکر نه کوي، چې موږ به له خپلو ارزښتونو او د هغوی د دفاع په لار کې له قربانیو دریغ وکړو.
همدا شان یو تاریخي فریم ورک رامنځته کوي، چې دا خاوره تل د قربانیو له لارې ژغورل شوې ده او د افغاني غرور، استقلال، او نه تسلیمېدو پیغام نقلوي او خپلو پوځیانو ته پیغام ورکوي، چې تاسو د قربانیو وارثان یاست او باید د هر ظالم او جابر پر وړاندې همدا لار تعقیب کړئ.
**پنځم پراګراف:** "زمونږ او ستاسو د دښمنانو، چې کله سخته ماتې وخوړه؛ نو یې فکري او رواني جنګ ته مخه کړه..."
دا برخه کې د دښمنانو سره د مبارزې یو بل او مهم باب بیانوي او دا تاکیدوي، چې که په فزیکي جنګ کې زموږ دښمنان ناکام شول؛ خو په رواني جنګ کې لا هم اخته دي او دا یو ډول تاکتیکي اشاره هم ده، چې هر ځواک د فزیکي ماتې څخه ورسته حتمن فکري حمله کوي؛ نو باید د تبلیغاتو تر تاثیر لاندې را نشئ او فکري مبارزې ته متوجه او پوره تمرکز ورباندې وشي.
**شپږم پراګراف:** "والله العظیم زه دا خوښوم چې د الله تعالی او د دې شرعي نظام د ساتنې په لار کې ذره ذره شم..."
د وینا دا برخه یې ډېره خوندوره ده، دغه سوګند او د تعهد تجدید یوازې قسم نه، بلکې له خلکو او ملګرو سره په کړیو وعدو وفا، د استشهاد اراده، د نظام بقاء، استحکام، دوام او د اسلامي احکامو تطبیق په باب د هغه د کلک دریځ څرګندونه ده او دغه دیني شدت د یو قوي ایمان لویه نښه ګڼل کېږي.
دا شان دا تعهد او سوګند د هغه د رهبریت اصلي تشخص څرګندوي، چې که د ځان په ذره ـ ذره کولو هم وي، له خپل مسیر نه تېرېږي او دوښمن ته پیغام ورکوي، چې د

خپلـو اهدافـو د تحقـق پـه پـار مشـرتابه هـم د ځـان قربانـي کولـو تـه تيـار دی او ملکـرو تـه وايي، چې هميش به ستاسو سره د قرباني په لومړي ليکه کې يم.

**اووم پراګـراف:** "مونـږ بـه د هـر هغـه څـه پـر وړانـدې کلـك ودرېږو چـې هغـه زمونـږ د نظـام بقاء او استحکام ننکوي..."

د وينـا دغـه برخـه ډيـر مهـم څـه واضحـوي او هغـه دا چـې اسلامـي امـارت يـو بشـپړ اسلامـي نظام دی، د وضعـي نظامونـو او د هغـوی د مفکـورو پـر وړانـدې کلـك دريـځ لـري او د دغـه نظام پـه وړانـدې هـر ډول هڅـه دوښـمني، بريـد او د بقـاء پـه وړانـدې تهديـد ګڼـل کېږي او ټولـو يـو پيغـام ورکـوي، چـې د دغـه نظام د دفـاع، استحکام او تطبيـق پـه برخـه کـې بـه هيـڅ داخلـي او خارجـي فشـار تـه تسـليم نشـي او هـر تهديـد تـه بـه ځواکمـن او قـوي ځـواب ورکړي.

**اتـم پراګـراف:** "دا چـې ستاسـو ځوانـان، ستاسـو فرزنـدان او ستاسـو د زړه ټوټـې الله تعالـی شهادت ته انتخاب کړې وي..."

د وينـا لـه دغـې برخـې څخـه د ټولـو تلليـو ملګـرو او د هغـوی د وارثانـو پـه اړه د زړه درد او غـم واضـح معلومېـږي؛ خـو بيـا هـم د تسـلی پـه پـار شـهادت تـه د انتخـاب پـه جملـه کـې يـې رانغـاړي او دا د الله رضـا او د هغـه پـه غـوراوي پـورې تـړي، چـې دا يـو قـوي عقيـدوي اسـاس ښکارندويي دی.

همـدا شـان دا د شـهيدانو وارثينـو تـه روانـي تسـلي ورکـوي او دا ورتـه پـه ډاګـه کـوي، چـې قربانـی يـې بـې ځايـه نـه دي او د هغـوی د ملاتـړ اهميـت بيانـوي؛ ځکـه دا دوامـداره نظامـي ملاتړ تضمينوي.

**نهـم او وروسـتی پراګـراف:** "راځـئ چـې د اسلامـي امـارت او د عاليقـدر اميـر المؤمنيـن حفظـه الله سره کلك ودرېږو..."

د وينا دا برخه يې د "اميرالمؤمنين" اطاعت ته په واضحو ټکو د خلکو په رابللو مشتمله ده، چې هم له ديني پلوه لازمي ګڼل شوی او هم د اسلامي امارت د دوام سمبوليکه بنه ده.

همدا شان ټولو ته د اسلامي امارت د يووالي او اطاعت اشاره کوي او د هر ډول خارجي تبليغاتو او افکارو د تأثيراتو پر ضد د خلکو د "اذهانو" د ساتنې او وحدت پاليسي بيانوي او دا هم روښانه وي، چې اطاعت د هر نظامي تشکيلاتي جوړښت لپاره حياتي ده.

# له لاسه تللې نیمه پېړۍ !

لیکوال: ابـو عبیده فضلي

لـه ډېـر پخـوا څخـه، کلـه چـې د افغانسـتان نـوم د نـړۍ پـه کـوم کـوټ کـې واورېـدل شـي، سمدستي پـه ذهنونـو کـې دا تصـور راکرځـي: هـم هغـه جګـړه ځپلـی هېـواد؟ یـا هـم هغـه بېوزلـی هېـواد؟ پـه داسـې حـال کـې چـې ټولـې نـړۍ تـه څرګنـده ده چـې د دې هېـواد د بدبختیـو تـر شـا څـوك ولاړ دي. خـو موږ افغانـان، چـې د دې خـاورې اصلـي وارثـان یـو او تاریـخ مـو د خپلواکـۍ غوښـتنې او آزاد ژونـد د قهرمانیـو ډك دی، تـل پـه خپلـو کـې د کنو ستونزو ښکار شوي یو.

د دې سـتونزو جـرړه د پردیـو اسـتخباراتو او د بهرنیـو هېوادونـو پـه ګټـو پـورې تړلـې ده، روښـانه بېلګـه یـې د پخوانـي شـوروي د یرغـل لپـاره زمینـه برابـرول و، چـې هېـواد یـې یـوې پراخـې نیابتـي جګـړې تـه ورښـکیل کـړ، د مجاهدینـو لـه بریـا وروسـته، ونـه توانېـدل چـې یـو ټولګډونـه او د ولـس غوښـتنو تـه ځـواب ویونکـی نظـام جـوړ کـړي، اختلافاتـو یـې زور واخیسـت، چـې نـاوړه اغېـزه بـه یـې د افغـان ولـس پـر برخلیـك تـر پېړیـو پاتـې شـي. لـه دې جملې ځینې مهم ټکي داسې یادولای شو:

1. د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ د زور او زر د مالکانو لخوا د هیواد د اشغال لپاره د بنسټ کېښودل؛ دغو اشغالګرو په هېواد کې داسې وحشت رامنځته کړ چې لیکوالان د دوی د جرمونو په اړه له لیکلو څخه په ویره کې و.

هـو! دا مبالغـه نـه ده، حتـی د دوی د خپـل اشـغال مرتکبیـن نـور غلـي پاتـې نشـول، دوی خپـل چیغـې وهلـې، حامـد کـرزي د خپلـې ولسمشـرۍ پـه دوره کـې پـه مکـرر ډول پـه رسـنیو کـې پـه عامـه توګـه وویـل: د ناټـو ځواکونـه د شـپې د خلکـو پـه کورونـو بریـد کـوي او پرتـه لـه اجـازې نامـې څخـه یـې نیسـي او شـکنجه کـوي، لـه دې څخـه لویـه فاجعـه دا وه، چـې د افغانسـتان ځمکـه پـه حقیقـت کـې د متحـده ایالاتـو لخـوا جـوړ شـوي بمونو لپاره لابراتوار وګرځېد او دوی هر چیرې چې وغواړي ازموینه یې کوله.

دا مهمه نه وه چې څو بې ګناه ماشومان شهیدان شول او څو کورونه بې سرپرسته پاتې شول،

چې يوه بيلګه يې د افغانستان په خاوره کې د (مور) په نوم د بم ازموينه ده.

۲ د فساد واکمني: په جمهوري حکومتونو کې فساد داسې خپور شوی و لکه لاعلاجه سرطان؛ دا فساد د دولت ټولې اداري په خپله لمن کې رانغښتې وې، هم مادي او هم معنوي ټولو ته د لمر په څېر څرګنده وه چې په وزارتونو، په ځانګړي ډول د دفاع او کورنيو چارو په وزارتونو کې څه تېرېدل، آن ځينو نجونو ته د جنرالۍ رتبې ورکول شوې، چې خلکو به په ټوکو "جګر جنرالانې" بللې.

د نظام له نسکورېدو وروسته، اوس ځينې کسان د جمهوريت د تورو ورځو کيسې کوي او څرګندوي چې څنګه د دولتي ادارو په کچه اخلاقي فساد واکمن وو، هغوی خپله وايي چې په بهرنيو چارو وزارت کې د ګمارنې يوازينی معيار د ښځو ظاهري ښکلا وه، هغوی له هماغه ورځو د ژوند تر ټولو بدې خاطرې لري.

۳ د افغان کلتور هېرول: په دې کې شک نشته چې افغانستان په نړۍ کې يو ځانګړی کلتور لري، تاريخ پوهانو تل دا په ويار سره ياد کړی دی، خو د اشغال پر مهال، افغان کلتور ورو ورو او په سيستماتيك ډول هېر شو او حتی د پوځي او کلتوري اشغالګرو لخوا له خلکو څخه له منځه يوړل شو، چې لومړی يې کورنۍ اغيزمنه کړه، بيا ټولنه، چې مثالونه يې د لويديځ ستايلونو ړانده تقليد وو، د بيلګې په توګه، د لينين په څېر ږيره خريل، د هټلر په څېر بروت پرېښودل...

حتی ښځينه طبقه هم په ورته ليکه کې شامله شوه او د ښار په کوڅو کې پرته له حجاب يا (چادري) څخه ووتله او د ډيموکراسۍ شعار يې ورکړ. رسنۍ هم له دې سرطان څخه خوندي نه وې، په خپل منځ کې يې سيالي کوله ترڅو وکوري چې کومه رسنۍ به تر ټولو فحشا خپره کړي او د لويديځ جوړ شوي تش په نامه ډګر وکټې، چې يوه بيلګه يې د پروګرام کوربه توب (ماډلينګ)، افغان ستاره، او نور وو، چې يوه افغانانه نجلۍ نڅا کوله او د هغې د بدن غړي يې ښودل.

البته، موږ بايد هير نه کړو چې موږ (ټول افغانستان) د دې هيواد د نيمې پيړۍ مسلې اصلي قربانيان يو، کوم چې په هر لحاظ په فقر کې ډوب شوی و، اقتصادي فقر، کلتوري فقر، تعليمي فقر او داسې نور. ټول هغه څه چې پورته يې يادونه وشوه د مثال په توګه وو، که موږ دا مسلې په عمومي ډول وڅېړو، نو کلونه به وخت ونيسي، او زموږ د بحث اصلي موخه ورك شوی نيمه پيړۍ ده، په داسې حال کې چې

مـوږ کولی شـو پـه تیـرو شـلو کلونـو کـې دا ځانګـړې نیمـه پیـړۍ پـه افغانسـتان کـې د مثبـت بدلـون راوسـتلو، زیربنـاوو جوړولـو، لویـو پـروژو ترسـره کولـو، د کانونـو پـه سـکتورونو کـې پانګوونـې او داسـې نـورو لپـاره وکاروو او زمـوږ هیـواد د پرمختـګ او سوکالۍ په لور رهبري کړو.

مګـر پرځـای یـې، هغـه غـدار مشـران چـې د کلونـو لپـاره یـې دا مظلـوم ملـت غلام کـړ، د دې خلکـو وینـه یـې وڅښـله، د خلکـو لـه خـوړو او څښـاک څخـه یـې غلا وکـړه او پـه ملیونونـو او حتـی ملیاردونـو ډالـرو پانګـه یـې جـوړه کـړه. پـه پـای کـې، لکـه څنګـه چـې مشـهوره وینـا ده، یـو غـدار ویـره لـري، نـو هغـه غـوره وګڼلـه چـې د قـرار پرځـای فـرار وکړي.

پایلـــه:

مـوږ افغانانـو پـه جګـړه کـې د خپلـو ژوندونـه نیمایـي برخـه لـه لاسـه ورکـړه او زمـوږ مورنـۍ خـاوره د یرغلګـرو لـه خـوا ویجـاړه شـوه، اوس د خـدای جل‌جلالـه پـه فضـل، د اسلامـي امـارت لـه بریـا وروسـته، زمـوږ خلکـو او ځمکـې بشـپړ سـوله او امنیـت احسـاس کـړی دی. د خـدای تعالـی جل‌جلالـه پـه فضـل، د عامـه کټـو لویـې پـروژې لکـه د قـوش تیپـې بنـد، د کاسـا زر، تاپـي او نـور پـه کار اچـول شـوي او زمـوږ د هیوادوالـو لپـاره یـې د کار فرصتونه رامنځته کړي دي.

د دې څلورو کلونـو پـه جریـان کـې، کلـه چـې د سـاختماني وزارت د عامـه کټـو پـروژې بیـا راژوندۍ او عملـي شـوې، کـه مـوږ ورتـه لـه بـل لیـد څخـه وګـورو، نـو بـه ووینـو چـې دوی زر کلن میراث لري. موږ د دې ټولو ښېګڼو ستاینه کوو او منندوی یو.

# د ډيموکراسۍ او اسلام فکري او عقيدوي تقابل

ليکوال: يوسف بدري

ډيموکراسي د معاصرې نړۍ له هغو مفاهيمو څخه ده، چې تر ټولو ډېره تبليغ شوې، ستايل شوې او د بشر د نجات په نامه نړيوالو ته وړاندې شوې. دا داسې يو نظام دی، چې د "خلکو د واک" شعار يې پورته کړی، خو تر شا يې د کفر، استکبار، استثمار او د الهي نظام سره د ښکاره دښمنۍ توري ارادې پټې دي.

ډيموکراسي نه يوازې دا چې د الهي احکامو څخه سرچينه نه لري، بلکې بشپړ بشري توليد دی، چې د بشري عقل د غلطو تجربو له تسلسل څخه راولاړ شوی، په دې نظام کې د حق او باطل معيار د الله حکم نه، بلکې د اکثريت رأيه ده، که اکثريت شرك ته رأيه ورکړي، نو هغه د قانون شکل اخلي؛ که فحشاء ته رأيه ورکړي نو د ازادۍ تر نامه لاندې قانوني کېږي، دا هغه خطرناك اصل دی، چې د الهي توحيد، عدل او شريعت سره ښکاره ټکر لري.

د ډيموکراسۍ نظام تل د بشري ازادۍ شعار ورکوي، خو د همدې شعار تر سيوري لاندې يې تر ټولو زيات ظلم، يرغلونه او استثمار ترسره کړی/کوي يې. نن د همدې نظام تر نامه لاندې مسلمان ملتونه تر بمبار، يرغل، اقتصادي بنديزونو، سياسي فشارونو او استخباراتي توطيو لاندې ژوند کوي، هغه ملتونه چې غواړي خپل ديني، شرعي او خپلواك نظام ولري، د همدې ډيموکراسۍ تر نامه لاندې تر بريد لاندې نيول کېږي.

خو اسلام بيا، برعکس، يو الهي نظام دی چې د الله تعالی د وحي پر بنسټ ولاړ دی. د واك اختيار يوازې الله تعالی ته وکړل سوی، نه انسان ته. شريعت د انسان د ژوند هر اړخ ته لارښوونه لري او د بشر د فطرت مطابق، د فساد، ظلم او ضلالت پر وړاندې يو الهي سپر دی. اسلام د عدل، قسط، مسئوليت، تقوی او مشورې پر بنسټ اداره جوړوي، نه د اکثريت په رايو باطل ته قانوني بڼه ورکوي.

مسلمانان بايد هوښيار و اوسي، چې د ډيموکراسۍ غوړ شعارونه مو خطا نه کړي، دا

یو فکري جال دی، چې د اسلامي ارزښتونو د ختمولو لپاره جوړ شوی. دا نظام نه د بشر ستونزې حل کړې، نه یې عدالت راووست، نه یې استعمار ختم کړ او نه یې د کمزورو لاسنیوی وکړ، بلکې د مستکبرینو لپاره د یو رسمي سیستم په توګه کار کوي، چې پرې د نړۍ سرنوشت کنټرول کړي.

اوس هم وخت سته، چې مسلمانان خپل اصل ته راوګرځي، د الهي شریعت پر بنسټ سیاسي، اجتماعي او اقتصادي نظامونه جوړ کړي. دا زموږ مسؤلیت دی، چې د دیموکراسۍ خیرن او مجرم نقاب لیرې کړو، ولس ته یې واقعي څېره ښکاره کړو، او اسلامي نظام ته دعوت ورکړو، ځکه یوازې همدا اسلامي نظام دی چې د انسان فطرت، عزت او فلاح تضمینولی شي.

# ولې د اسلامي امارت دفاع کوم؟ !

لیکوال: شعیب عزیز

سریزه:

د تاریخ په اوږدو کې، مسلمانې ټولنې تل د داسې نظام په لټه کې وې چې پر دیني ارزښتونو، ټولنیز عدالت او سیاسي خپلواکۍ ولاړ وي او د اسلامي شریعت تر سیوري لاندې د هغه عزت او وقار سره ژوند وکړي چې د انسان فطرت یې غوښتنه کوي.

د افغانستان اسلامي امارت، د یوه داسې نظام په توګه چې د دې خاورې د اسلامي، کلتوري او تاریخي ټولنې له زړه څخه راپورته شوی، د خپلو قربانیو او زړورتیا له امله د مسلمان ولس ځینې اوږدمهاله ارمانونه درلک کړي دي.

د دې مقالې اصلي پوښتنه دا ده چې ولې د اسلامي امارت ملاتړ کوم؟ ولې د افغانستان اسلامي امارت د یو معتدل او له افراط او تفریط څخه لرې نظام په توګه پېژنم؟

په حقیقت کې، یو سالم انسان فطرتاً باید د هر هغه څه په اړه د حق او انصاف پر بنسټ قضاوت وکړي. زه د کوم مقام او کوم امتیاز لپاره دغو پوښتنو ته ځواب نه ورکوم، بلکې یوازې د حقیقت او واقعیت د څرګندولو لپاره مې قلم اخیستی دی او پرېکړه مې کړې چې په دې اړه څو ټکي څرګند کړم.

لکه څرنګه چې ټولو ته معلومه ده، د ناټو او اشغالګرو امریکایانو د پوځي شتون له پیل راهیسې، چې د خپلو اجیرانو په مرسته او ملګرتیا د ټولو نظامي تجهیزاتو سره پر افغانستان یرغل وکړ، په هغو ورځو کې مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد داسې کلیمې او جملې له ایمان او بشپړ یقین سره وکارولې او په خپل زرین تاریخ کې یې ثبت کړې چې دا سپېڅلی کاروان د صداقت او حقانیت څرګندونه نښه وه، هغه د یرغل په لومړیو ورځو کې په خپله راډیویي مرکه کې وویل:

«امریکا موږ ته د ماتې وعده راکوي؛ خو الله متعال موږ ته د نصرت او بریا وعده راکړې ده. نو موږ منتظر یو چې د چا وعده به پوره کېږي.»

بېشکه د داسې امیرانو شتون، چې د دې سپېڅلې او مخلصې لارې بنسټ ایښودونکي

وو، د دې نظـام د حقانيـت څرګـنـده نښـه ده، د يرغلـګـرو لـه رسـمي راتـګ وروسـته، خپلـواک، متديـن او مجاهـد ولـس چـې د پاکـو مينـدو زېږېدلـي، د عفـت، تقـوا او ريښـتينو ښـوونکو پـه لاس روزل شـوي او د جهـاد ، ازادۍ او مېرانـې پـه روحيـه لـوی شـوي وو د مېرانـې، شجاعت او سربښندنې په ډګر کې قدم کېښود.
يقينـاً د جهـاد لـه حکمتونـو څخـه يـو دا دی چـې د مصلحينـو او فاسـدانو ترمنـځ توپيـر رامنځتـه کـړي، د افغانسـتان د شـل کلـن جهاد پـه جريـان کـې مـوږ وليـدل چـې تـر ټولـو مخلـص، متديـن او غيرتمنـد شـخصيتونه، لکـه عالمـان، حافظـان، د قـرآن عظيم‌الشـان قاريـان او د دې خـاورې مخلـص ولـس، پـه دې لار کـې برخـه وال وو، دوی پـه مينـه د جهـاد کرمـو سـنګرونو تـه ورودانـګل، ډېـرو يـې د شـهادت جـام نـوش کـړ، ځينـې بنـدي شـول، زرګـونـه کـورنـۍ بې‌کـوره شـوې او زرګـونـه عالمـان او د ديـن حافظـان يـوازې د جهـاد د فتـوا او د وطـن د خلاصولـو لـه املـه ورک شـول، لنـډه دا چـې افغانانـو داسـې پـاک او سـپيڅلی جهاد پيل کړ چې په معاصر تاريخ کې يې ساری ډېر کم دی.
د يوويشـتو کلونـو مبـارزې وروسـته، الله متعـال جل‌جلالـه هغـه وعـده پـوره کـړه چـې پـه هـر وخـت کـې يـې لـه خپلـو مؤمنـو بندګـانو سـره کـړې وه، د شـهيدانو وينـو، د مظلومانـو دعـاوو، د ځورېدلـو مينـدو او د يتيمانـو اوښـکو ثمـر ورکـړ او ښـکاره بريـا د افغانسـتان د مجاهـد ولـس برخـه شـوه، پـه بشـپړ وياړ او عـزت سـره، مـوږ د اسلام د دښـمنانو شـرمناکه او ذليلانـه تېښـته وليـده، دا ورځ د افغانسـتان او نـړۍ پـه تاريـخ کـې د امريـکا او د هغـې د متحدينـو د شـرمناک شـکسـت پـه توګـه ثبـت شـوه او ازاد نسـلونه بـه تـل پـرې وياړي او دا ورځ به يادوي.
د اسلامـي امـارت لـه بريـا او د اسلامـي نظـام لـه ټينګېـدو وروسـته، کلـه چـې بشـپړ امنيت او داسـې حکومـت رامنځتـه شـو چـې پکـې د مسـلمانانو ديـن، عـزت او وقـار خونـدي وي، ځينـې کسـان د اسلام لـه قسـم خوړلـو دښـمنانو سـره همغـږي شـول او ډول ډول تورونـه او بـې بنسـټه خبرونـه يـې خپاره کـړل. دوی غـواړي د خپلـو خالـي او بې‌بنسـټه تبليغاتـو لـه لارې د اسلامي امارت پر وړاندې د خلکو ذهنونه خراب او بې‌باوره کړي.
نـن چـې د افغانسـتان د مجاهـد او مېړنـي ولـس لـه بريـا شـاوخوا څلـور کالـه تېـر شـوي دي، بيـا هـم کفـار او منافقيـن، چـې لـه هـر ډول لارې د اسلامـي نظـام د ماتولـو څخـه ناهيلـې شـوي، اوس هڅـه کـوي د بې‌اساسـه نيوکـو او اعتراضونـو پـه وسـيله د خلکـو پـه منـځ کـې

تفرقـه واچـوي، هغـه کسـان چـې د اسلامـي نظـام لـه فلسـفې او تاریـخ څخـه، لکـه تعامـل، تعهـد او شـرعي اړیکـو ناخبـره دي او د بشـریت لـه سـتر لارښـود ، د رحمـت پیغمبـر صلى‌الله‌علیه‌وسـلم لـه سـپېڅلي سـیرت څخـه نـا آګاه دي، د شـکونو او اعتراضونـو پـه خپرولو سره ځینې خلک د اسلامي امارت پر وړاندې بدګومانه کوي.

پـه حقیقـت کـې، هـر متدیـن او خپلـواک انسـان بایـد د داسـې نظـام غوښـتونکی وي او د هغـه ملاتـړ پـر ځـان لازم وبولـي، هغـه مـوارد چـې د اسلامـي امـارت د ملاتـړ لپـاره پـرې ټینـګار کـوم، د اسلامـي شـریعت پلـي کـول: د اسلامـي امـارت د ملاتـړ او د دې نظـام د حقانیـت تـر ټولـو لویـه نښـه. د حجـاب، لمونـځ او نـورو اسلامـي احکامـو ټینـګار: د بهرنـي کلتـوري یرغل پر وړاندې د دیني ارزښتونو ساتنه.

د بهرنـی ولکـې ختمـول: اسلامـي امـارت د مقاومـت لـه لارې د هېـواد خپلواکـي بېرتـه راوګرځوله.

د امنیـت او ثبـات ټینګښـت: چـې د علمـي، اقتصـادي او کلتـوري ودې زمینـه برابـروي او ټولنه له وېش او تفرقې ژغوري.

ټولنیـز عدالـت او د فسـاد پـر وړانـدې مبـارزه: د قانـون پلـي کولـو پـه وړانـدې برابـري. د کلتـوري یرغـل پـر وړانـدې د سـپر پـه توګـه درېدنـه: د لوېدیـځ رسـنیز او کلتـوري یرغـل پـر وړاندې د امت اسلامي ساتنه.

پـه لنـډه توګـه، د اسلامـي امـارت ملاتـړ یـوازې سیاسـي انتخـاب نـه دی؛ بلکـې یـوه ژوره دینـي او ایمانـي عقیـده ده. دا نظـام د اسلامـي ارزښـتونو، خپلواکـی، ټولنیـز عدالـت او د اسلامـي کلتـور د هویـت د سـاتنې پـر بنسـټ ولاړ دی. زه پـه دې بـاور یـم چـې د اسلامـي امـارت ملاتـړ د دیـن، وطـن، عـزت او د راتلونکـو نسـلونو لپـاره د خپلـواک او اسلامـي راتلونکـي ملاتړ دی.

# څلورم فصل
# سیاسي او ټولنیزې لیکنې

# نړۍ ته نه منونکی تحول؛ د لیست د سر خلګ پای ته راغلل!

لیکوال: نعمان سعید

د شپږو میاشتو په موده کې د دوهم ځل لپاره دا خبر اورو، چې د امریکایي ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ځانګړي استازي ادم بولر په مشرۍ او د زلمي خلیلزاد په ګډون لوړپوړی پلاوی کابل ته راغلی او د دواړو هېوادونو د اړیکو د پراختیا پر لارو چارو، د اتباعو پر مسایلو او په افغانستان کې د پانګونې او نورو فرصتونو په تړاو د ا.ا لوړپوړو چارواکو سره د لیدنو کتنو او په هر اړخیزو خبرو بوخت دی.
کله چې امریکا له خپلو متحدینو او اشرېانو سره پر افغانستان یرغل وکړ او د زور له لارې یې دلته حاکم د طالبانو اسلامي تحریک/اسلامي امارت رنګ کړ؛ د نړۍ په هر کوټ کې د ا.ا.ا خواخوږي مسلمانانو په خپلو درد ناکو لیکنو او تبصرو کې د افسوس څرګندونه کوله او دا خبره به ډېره تکرارېده: "لکه چې هر څه ختم شول".
خو د طالبانو آند بدل و، طالبانو به ویل، چې "هر څه ختم شول" دا تأثر ناسم دی؛ بلکې اوس نوې لوبه شروع شوه، چې وروستی نتیجه به یې ان شآء الله د لست له سر نه د لست پای ته د امریکا را تلل وي، دا دی نن وینو، چې امریکا د لست په کوم ځای کې قرار لري. د دې نتیجې اټکل په اول ځل خپله محترم امیر المؤمنین لوی ملا صاحب، ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله کړی و.
که څه هم اټکل یې سم وخوت خو یو څه اوږد شو؛ ای کاش! په ژوند یې خپل آټکل لیدلی وی! د اټکل د ناوخته کېدل به شایي نورې وجې ولري؛ خو یوه وجه دا کېدای شي، چې ځینو سیمه ایزو هغوی له احساساتي چلند او بیړې کار واخیست، چې نه یوازې دې کار ا.ا ته مشکلات پیدا کړل؛ بلکې د هغوی خپله مبارزه یې هم کدوده کړه. که چیرې د بېلا بېلو محاذونو پرځای ټول قوت په تدبیر او حکمت سره د ا.ا په ملاتړ کار کړی وای؛ نو کېدای شي د ملا صاحب په ژوند کې به یې آټکل ثابت شوی وای او د "پلاویو د تګ راتګ او خبرو اترو" دا خبرونه به اوس زاړه وای.
چیرې مې لوستې و، چې کله جنرال صدر ایوب خان سیاسي فعالیتونه پیل کړل؛ نو

آغا شورش کشمیري په یوه غونډه کې د وینا پرمهال د هغه د مارشل لا یادونه داسې وکړه: "هغه چې څومره وخت صدر ایوب پاتې شو، همدومره وخت مونږ د ایوب صبر اختیار کړی و".

د آغا شورش کشمیري دا خطیبانه جمله ډېره پر ځای ده او د ۱۱ د سپتمبر نه وروسته د امریکایي یرغل لاندې افغانستان کې زموږ او زموږ د ملت همدا حالت و، چې "مونږ د خپلواکۍ د اخیستلو لپاره د ایوب صبر اختیار کړی و".

مونږ په دې باور و، چې پر افغانستان دا یرغل به هېڅکله بریالی نشي؛ ځکه چې اشخاص یا ډلې شاید د زور له لارې ماتې وخوري؛ خو مکر ملتونه د زور له لارې نه ماتیږي.

د ا.ا.ا په اړه نړۍ دا غلط فهمي په هماغه وختو کې وکوله، چې کواکې ا.ا یوه ساده وسلواله ډله ده، چې خپله کړې خبره نه پرېږدي او باید کلکه سزا ورکړل شي؛ خو مکر د لویو طاقتونو څخه د دې خبرې په درکولو کې ډېر کلونه تېر شول، چې ا.ا یوازې یوه ډله نه؛ بلکې د افغان ملت غیرت، له اسلام او شریعت سره هغه مینه ده، چې د ا.ا.ا په نوم کې را ټوکیدلې ده. بیا هم، "دیر آید درست آید".

د ا.ا د شالید په اړه مغوی ته، چې ښه معلومات نه لري دومره عرض کوم، چې کله شوروي اتحاد افغانستان ته راغی؛ نو د مجاهدینو بېلابېلو ډلو د خپل وطن د آزادۍ او دیني هویت د ساتنې لپاره د جهاد توغ پورته کړ؛ دوی ته د شوروي اتحاد پر ضد جنګ کولو لپاره د نړۍ او غربي قوتونو ملاتړ هم حاصل شو، چې نه تنها افغانانو؛ بلکې سیمې او د نړۍ نورو هېوادونو څخه هم زرګونو کسانو په دې جهاد کې ګډون وکړ، چې په نتیجه کې یې روسي پوځونه له افغانستانه ووتل؛ خو وروسته غربي قوتونو د جهاد میوې ځان ته کش کړې او مجاهدین یې یوازې پرېښودل، ترڅو خپل منځ کې سره وجنګېږي، چې په دې توګه افغانستان د احمد مسعود، انجینر ګلبدین او نورو ډلو ترمنځ د کورنۍ جګړې ډګر وګرځید.

په دې خانه جنګۍ کې د افغانستان بشپړه تباهي او د جهاد ټول اهداف له یوې مخې د منځه تللو ته نږدې شول، چې په همدې مهال د مدرسو له غیرتي د دیني زده کړو طالبان، بیلابیل مجاهدین او مخلص ځوانان د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله په مشرۍ له قندهار نه را پاڅېدل او د امن راوستلو او د اسلامي شریعت د نافذولو په مقصد

یې یو منظم تولګی جوړ کړ. دوی ورو ورو د افغانستان زیاتره برخې تر خپل کنټرول لاندې راوستلې او "د افغانستان اسلامي امارت" تر نامه لاندې یې حکومت جوړ کړ.
له دې سره د افغانستان ـ روس د جهاد برخوالو عربو مجاهدینو د اسامه بن لادن په مشرۍ په منځني ختیځ کې امریکایي پوځونه او د اسرایل پلوه لویدیځې پالیسۍ پر ضد غټ پورته کړ او دلته په افغانستان کې میشت شول. لویدیځ پر دې اعتراض وکړ او له طالبانو یې غوښتنه وکړه، چې عرب مجاهدین لرې کړي او اسامه بن لادن امریکا ته وسپاري؛ خو ا.ا دا یو ارځیزه غوښتنه ونه منله او ویې ویل: باید نړیوال او بې طرفه تحقیقات وشي، له دې پرته دوی اسامه بن لادن چاته نشي سپارلی.
بیا په امریکا کې د سپتمبر د ۱۱مې پېښه وشوه، چې پړه یې پر عرب مجاهدینو واچول شوه او د اسامه د ورسپارلو غوښتنه زیاته شوه. طالبانو دا ونه منله، چې بالاخره د ملل متحد د ترهګرۍ د تعریف یا وضاحت پرته، د امریکا او اشربانو لخوا یې په افغانستان ناروا یرغل وشو او طالبان یې له واکه لرې کړل؛ خو هغوی د تسلیمۍ پرځای یې د غرونو لمنو کې جبهات منظم کړل او اشغالګرو سره جنګ ته داخل شول.
د اشغال له پیل سره جګړه هم پیل شوه او تر شلو کالو په افغانستان کې جګړه روانه وه، چې د دوو لسیزو جنګ وروسته بیا هم نه طالبان مات کړل شول او نه له خپلې اجنډا او عزم څخه تیر شول. څه موده وړاندې په اصطلاح د جرمونو د نړیوالې محکمې په نوم کومې غربي ادارې څه اوتې بوتې غوږلې وې؛ دوی ویل، چې لا هم ا.ا دې ته چمتو نه دی، چې د سختو قوانینو د پلي کولو د پرېښودو سره موافق شي او امریکایي پوهان وایي، چې د افغانستان په جګړه کې دا د امریکا ستره ناکامي وه.
خبرې به روانې وي، د پلاویو تګ را تګ به جاري وي، څومره چې جریانات مخته ځي؛ زاړه او نوي ارخونه به هم ورسره را څرګندیږي، همدا شان دا ډول خبرونه به نور هم اورو، چې دغسې خبرونه اوریدل د ډیپلوماتیک بهیر د پرمختګ او د ټولنیز اطمنان څرګندونه کوي او نه تنها دا د طالبانو د حکومت لپاره پرمختګ دی؛ بلکې هغو ته یو روڼ پیغام هم دی، چې په سیمه کې د نورو بارکښان دي، دوی باید نور د نورو د بارونو له وړلو خپلې اوږې سپکې کړي او ځمکني حقایقو منلو ته غاړه کیږدي.

بهرحـال ! اوس د افغانسـتان اسلامـي امارت پـه ټـول هيـواد حاکـم دی، کابـل بانـدې سـپين تـوغ رپيـږي او لـه حکـومت سـره د خبـرو اتـرو، راشـه درشـه بهيرونـه او تماسـونه هـر خـوا روان دي، چـې وخـت نـا وخـت لـه واشـنګټن نـه هـم پلاوي او هـم اسـتازي پـه کـې را روان وي، دا ليدنـې کتنـې، دا پلاوي او اسـتازي دا معنـی لـري چـې د ۱.۱.۱ پـه نړيوالـه سـطحه منـل شـوی حکومت او پـه راتلونکـي نړيـوال نظـم او سـيمه کـې د راتلونکـې افغانسـتان پـه اړه يـې رول او خپلـواک دريـځ د منلـو دی او د افغانسـتان اسلامـي امـارت يـوه سـاده وسـلواله ډلـه نـه؛ بلکـې د کامل شريعت اسلامي چوکاټ او منظم سياسي نظام دی.

# کنړ کې د ۱.۱.۱ سرتیرو بې ساري هلې ځلې !

لیکـوال: ادریس وصال

د دوشـنبې پـه شـپه، شـاوخوا ۱۱:٤٧ دقیقـې هغـه مهال چې ډېری خلـك ویده و، د افغانسـتان پـه بېلابېلـو ولایتونـو پـه ځانګـړې توګـه پـه کنـړ او ننګرهار کـې ځمکـه ولړزېده. د ٦ ریشـتره ځـواك زلزلـې سـره کورونـه پـه کنډوالـو بـدل شـول او د شـپې چوپتیـا یـې د ټپیانـو د چیغـو او دردونـو پـه فریادونـو بدلـه کړه. پـه همدې تیاره شـپه کـې، د خلکـو پـر سـرد وېرې او وحشـت سـیوری خپـور شـو، خـو د اسلامـي امـارت ځواکونـو لکـه د نجـات فرښتې ځانونه سیمې ته ورسول.

د غرونـو ښـوېدنې لـه امله ډېری ځمکنـی لارې تـړل شـوې وې او لیـرې پرتـو سـیمو تـه رسـېدل تقریبـاً ناشـوني و، خـو دا د مرسـتو پـه وړانـدې خنـډ جـوړ نـه شـو، د ملـي دفـاع وزارت چورلکـې د ملي دفاع د وزیـر د مسـتقیم حکـم لـه مخې پـه لومړیـو سـاعتونو کـې الوتنـې پیـل کـړې، پـه کنـړ کـې یـې لـه پېښـې ځایـه ټپیـان د ننګرهـار ولایتـي روغتـون تـه ولېږدول. دغـه عملیـات یـوازې د ټپیانـو انتقـال نـه و، بلکـې دوا، خوراکـي توکـي او نـور عاجـل مرسـتندویه توکـي یـې هـم ورسـول، یـوازې پـه یـوه ورځ کـې دغـو چورلکـو بـې لـه ځنډه له ۸۰ ډېر پروازونه وکړل.

د اسلامـي امـارت امنیتـي ځواکونـو هـم د کنډوالـو لانـدې د خلکـو د ژغورلـو هڅـو تـه راودانـګل، دوی د لومړنیـو وسـایلو پـه مرسـته او ځینـې وخـت یـوازې پـه خپلـو لاسـو، د خپلـو هېوادوالـو د ژغورلـو لپـاره کوښـښ وکـړ، دا صحنـې د جهـادي روحیـې او ایثـار هغـه یـاد تـازه کـاوه، چـې د افغانسـتان پـه تاریـخ کـې پـه سـختو شـرایطو کـې روښـانه و، د سـیمې خلـك هـم د دولتـي ځواکونـو ترڅنـګ ولاړ وو او د شـهیدانو پـه پیـدا کولـو او د ټپیانـو پـه انتقال کې یې فعاله ونډه واخیسته.

د عامـې روغتیـا وزارت هـم لـه تجربـه لرونکـو ډاکټرانـو او رضاکارانـو نرسـانو جـوړ ټیـم بـې لـه ځنډه د پېښـې سـیمو تـه واسـتاوه، دوی د سـختو شـرایطو او محـدودو امکاناتـو سـره سـره د ټپیانـو درملنـه وکـړه او د ډېـرو کسـانو ژونـد یـې وژغـوره، دغـه چټـك او همغـږی

غبرګون د اسلامي امارت د کړکيچونو پر مهال د دقيق پلان ښکارندوی و.

اسلامي امارت د دې المناکې پېښې له رامنځته کېدو سره سم د ۱۰۰ میلیونه افغانیو (شاوخوا ۱.۳ میلیونه ډالرو) عاجلې مرستې اعلان کړې او څرګنده یې کړه چې که اړتیا وي، دغه مرستې به نوره هم زیاته کړي، دا اقدام یوازې د حکومت د مسؤلیت پذیرۍ نښه نه ده، بلکې دا هم څرګندوي چې اسلامي امارت په خورا سختو حالاتو کې هم د خپل ولس تر څنګ ولاړ دی.

دې خواشینوونکې پېښې یو ځل بیا د افغان ولس د ملي یووالي او د اسلامي امارت د ځواکونو د ایثار او وطنپالنې روحیه ننداره ته وړاندې کړه، په داسې حال کې چې په ډېرو هېوادونو کې د ورته حالاتو پر مهال د لوژستيکي ستونزو سره لاس او ګرېوان کېږي، د اسلامي امارت ځواکونه په خپلو موجودو امکاناتو سره په چټکۍ او د ستاینې وړ وړتیا عملیاتو ته ور ودانګل. دغې بیړنۍ غبرګون نه یوازې د ډېرو کسانو ژوند وژغوره، بلکې د هغو خلکو په زړونو کې یې هیلې ژوندۍ کړې چې هر څه یې له لاسه ورکړي وو.

زلزله یو طبیعي آفت دی چې د رامنځته کېدو مخه یې نه شي نیول کېدای، خو د هغې وروسته عملیات د یو حکومت د ځواک او وړتیا څرګندونه کوي. اسلامي امارت په دې اقداماتو وښودله چې یوازې د امنیت لپاره نه، بلکې د خلکو د هوساینې او د ژوند د ژغورنې لپاره هم په بشپړه توګه چمتووالی لري، دا پېښه د ملي یووالي او د حکومت د ولسي خدمت ژمنې یو نوی باب پرانیزي.

# د سنبلې ۹مه، د اشغال وروستۍ شپه او د حريت د سپېدو پيل !

ليکوال: محمد يوسف بدري

په تاريخ کې ځينې ورځې او شپې داسې وي چې نه يوازې د يوې جغرافيې د برخليك ټاکونکي وي، بلکې د يو ولس د عزم، قربانۍ او غيرت اثبات هم کوي، د ۱۴۰۰ هجري لمريز کال د سنبلې ۹مه همداسې يوه ورځ وه، چې د افغانستان له خاورې څخه د اشغال تر ټولو وروستۍ سمبول، امريکايي عسکر "کريس دوناهو" ووت او زموږ د ملت د خپلواکۍ نوې پاڼه پرانيستل سوه.

په ګران افغانستان باندې د امريکا يرغل چې د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په اوومه نېټه د "تروريزم ضد جګړې" تر عنوان لاندې پيل سو، د عدالت او قانون له هر اصل څخه خالي و. دا يرغل په حقيقت کې يو اشغال و، چې نه يوازې يې نظامي شتون درلود، بلکې کلتور، اقتصاد، اراده او ازادي يې هم تر بريد لاندې راوستلې وه.

شل کاله د وحشت، زندانونو، بې ګناه وژنو، شپنيو چاپو او د ولس د سپېڅلي حريم د بې احترامۍ هر ډول هڅې وشوې. خو د افغان ولس غيور ضمير هېڅکله له پاڅون، مبارزې او مقاومت څخه ستړی نه سو.

امريکا، چې ځان د نړۍ زبرځواك ګڼي، د شل کلنې جګړې، ميلياردونو ډالرو مصرفولو او د زرګونو سرتېرو سره ونه توانېده چې يو ولس، چې د حق پر اساس ولاړ و، تر خپل تسلط لاندې وساتي. دا وتنه يو اعتراف و، چې زور، ټکنالوژي او تبليغات هېڅکله د ولسونو اراده نه سي ماتولای.

د کريس دوناهو وتل د يوې ناکامې ستراتيژۍ، يو اشغالګر فکر او د يو دروغجن نړيوال عدالت د سقوط ښکاره دليل وو، هغه شپه چې وروستی امريکايي عسکر، کريس دوناهو د کابل له هوايي ډګر څخه ووت، د امريکا د شل کلن اشغال وروستۍ شپه وه، دا د نړۍ د زبرځواك لپاره د غرور نه، بلکې په خپله ماتې د اعتراف شپه وه، دا اعتراف د ناکامۍ، ماتې او د افغان ولس د نه تسليمېدونکي مقاومت پر وړاندې د زوال اعتراف و.

دوناهـو د شـپې پـه تیـاره کـې پرتـه لـه افتخـار، پرتـه لـه بدرګـې، پرتـه لـه ویـاړ، یـوازې د یـوه عاجـز او تسـلیم سـوي پـوځ د وروسـتي اسـتازي پـه څېـر ووت. د هغـه ګامونـه د امریـکا د هغـو شـعارونو مـرګ و، چـې د آزادۍ، بشـري حقونـو او پرمختـګ تـر نامـه لانـدې یـې زمـوږ د ملت د استعمار هڅه وکړل.

دوناهـو لـه ځان سـره نـه بیـرغ یـو وړ، نـه بریـا او نـه لاسـته راوړنـه، بلکـې یـو عبرتنـاک درس یې پرېښود، هغه داچې؛ که اشغال هر څومره زورور وي، د ملتونو اراده نه شي ماتولی.

افغـان ملـت، چـې د خپـل ایمانـي غیـرت پـه زور یـې شـل کالـه د قربانیـو داسـتان ولیـکـه، بالاخـره د یـوه سـتر اشـغال وروسـتی پانـه یـې هـم ختمـه کـړه. دا وتنـه د تاریـخ پـه حافظـه کـې د امریکا لپاره یوه توره، خو د افغان ملت لپاره د ویاړ یوه زرینه لحظه پاتې سوه.

## د سنبلې ۹مه؛ د پوځي جګړې پای او د کلتوري جګړې پیل!

**لیکوال:** شکیب احسان

د ۱۴۰۰م کال د سنبلې نهمه هغه ورځ ده چې وروستی شرمنده امریکایي عسکر د ماتې په منلو د افغانستان له پاکې خاورې وتښتېد، دا ورځ د توري پر ورانديې د ويني، د وحشت پر وړاندې د ایمان او د هغو سترو ځواکونو د تشو ادعاوو پر وړاندې د یو ملت د ارادې سمبول دی چې فکر یې کاوه، په زور او پیسو سره، هغه کلتور او هویت چې د یو ملت د روح په ژورو کې یې ریښې نیولې وي، له منځه یوسي.
دا ورځ د پوځي اشغال د پای ته رسېدو کیسه وه، مګر په حقیقت کې، دا د یوې لویې جګړې د پیل ځرګندونه وه: د یو استعمارګر له لاس څخه د فکر او کلتور د ګر بیرته ترلاسه کول چې ماتې یې خوړلې مګر د خپل فکر زهر یې د ټولنې په بدن کې زرق کړی وو.
د افغانستان شل کلن اشغال یوازې پوځي یرغل نه و؛ هغوی له ځان سره کلتوري بمبارۍ هم راوړې، دوی داسې انګېرله چې د رنګارنګو شبکو، د پردیو ارزښتونو د تلقین او د هغو ژوندانه د دود له لارې چې د دې خاورې له اصالت سره بیخي پردي وو، داسې نسلونه وروزي چې له خپل ویاړلي تاریخ او راسخ ایمان سره پردي پاتې شي، دوی غوښتل چې په نړیوالو ذهنونو کې مجاهدین «تروریستان» معرفي کړي او د یوه ملت مقدس جهاد او مقاومت د یوې دلې د تاوتریخوالي په کچه راټیټ کړي.
خو د جګړې په ژورو سنګرونو کې، هغه ځوانان چې په یوه لاس کې یې قرآن عظیم‌الشان او په بل لاس کې یې وسله درلوده، نه یوازې د ټانکونو پر وړاندې ودرېدل، بلکې د کلتوري یرغل پر وړاندې یې هم مقاومت وکړ. د هغوی ایمان د دې تهاجم پر وړاندې یو قوي خنډ و.
خو نن، د سترې پوځي بریا وروسته، زموږ دنده پای ته نه رسیدلې. د دښمن عسکر شاید وتلي وي، مګر د جګړې ډګر اوس نورو ډګرونو ته خپور شوی دی: د کتابونو، ښوونځیو، رسنیو، هنر او مجازي فضا ډګر.

دښـمن ماتـې خوړلـې خـو پـه خپـل ټـول وس او تـوان سـره هڅـه کـوي چـې خپـل نظرونـه پـه ډيـرو پيچلـو لارو پـه ټولنـه کـې د خـوږه زهـر پـه څيـر زرق کـړي، هغـه هڅـه کـوي چـې زمـوږ ځوانـان د تشـو مـادي نظرياتـو سـره وغولـوي، د امـت يووالـی د تفرقـې پـه ترفندونـو مـات کړي او هغه ديني غيرت چې د مجاهدينو ستره وسله وه، هېر کړي.

اوس د دينـي عالمانـو، ليکوالانـو، شـاعرانو، پوهنتـون استـادانو او هـر زړور افغـان وکـړي مسـؤليت تـر بـل هـر وخـت ډيـر درونـد دی، مـوږ بايـد د کلتـوري او فکـري جګـړې ډګـر تـه پـه همـاغـه زړورتيـا سـره ننوځـو چـې مجاهدينـو د جګـړې پـه ډګـر کـې ښـودلې وه، مـوږ اړتيا لـرو چـې د اصلـي محتـوا پـه توليد، د اسلامي-افغانـي ارزښـتونو د بيا ژونـدي کولـو، د ملـي او مذهبـي هويـت پـر بنسـټ د تعليمـي سيسـتم د پياوړتيـا او د هغـوی د روښـانه کولـو لـه لارې د دښمن د دسيسو په وړاندې نوي قوي مرکزونه جوړ کړو.

د نـن ورځـې جګـړه د افـکـارو او زړونـو د بيرتـه ترلاسـه کولـو لپـاره جګـړه ده. راځـئ هوښـيار واوسـو ! چـې دښـمن دا ځـل پـه بـل لبـاس او د غولونکـې ژبـې سـره بيرتـه راسـتون نشـي، د سـنبلې د ۹مـې بريـا مـوږ تـه درس راکـړ چـې هيـڅ ځـواك د يـو ملـت د يووالـي ارادې سـره مقاومـت نشـي کولـی. اوس، مـوږ بايـد دا اراده هغـه ډګـر تـه واړوو چيـرې چـې دښـمن زموږ د فکري واك د ماتولو اراده لري.

نـن ورځ، افغانسـتان د اسلامـي امـارت تـر واکمنـی لانـدې، دا تاريخـي فرصـت لـري چـې نـه يـوازې خپلـه پوځـي خپلواکـي ولمانځـي، بلکـې د فکـري او کلتـوري خپلواکـی لپـاره يـوه لويـه پـروژه هـم پرمـخ بوځـي. دا د هغـو شـهيدانو د وينـې لپـاره تـر ټولـو لـوی درنـاوی دی چـې د خپلو سرونو په قرباني سره يې د دې آزادۍ لپاره لاره هواره کړه.

راځـئ چـې داړ ترلاسـه کـړو چـې د افغانسـتان د سـبا نسـلونه پـه داسـې آزاد او سـرلوړي هېـواد کـې ژونـد وکـړي چـې پيـاوړی هويـت ولـري او د پرديـو لـه کلتـور څخـه بې‌نيـازه وي، د سـنبلې ۹مـه د اشـغال پـای و، خـو د دې سـتر مسـؤليت پيـل هـم و چـې يـو داسـې افغانسـتان جوړ کړو چې په هېڅ ډګر کې د نورو محتاج او د بل تر سيوري لاندې نه وي.

# آزاد کشمیر که د پوځي لوبو میدان؟

لیکنه: ډاکټر اجمل ترین

کشـمیر د نـړۍ یـوه لـه هغـو سـیمو څخـه ده چـې پـه جیوپولیتیـک لحـاظ د سـتراتیژیك مرکـز حیثیـت لـري. د هنـد، پاکسـتان، چیـن، افغانسـتان، منځنـي ختیـځ او مرکـزي آسـیا پـه څلـور لارې کـې پرتـه دا سـیمه د مذهبـي، قومـي، اقتصـادي او تاریخـي ارزښـت لـه مخـې تـل د نړیوالـو قوتونـو پـه سیاسـي لوبـو کـې قربانـي شـوې. د ۱۹۴۷م کال وروسـته کشـمیري ملت نه بشپړه ازادي ترلاسه کړه، نه د خپل برخلیك د ټاکلو حق ورته ورکړل شو.
پـه تېـرو څـه بانـدې ۷۰ کلونـو کـې هنـد د پوځـي اشـغال، پاکسـتان د سیاسـي اسـتثمار او نـړۍ د سـتراتیژیکې چوپتیـا لـه لارې، د کشـمیري ولـس حقونـه تـر پښـو لانـدې کـړي دي. کشـمیریان د وقـار، عـزت، هویـت او ملـي خپلواکـۍ مسـتحق ملـت دی او د دوی قضیـه بایـد د انسانیت، عدالت او بین المللي حقوقو له اساساتو سره سمه حل شي.

### د کشمیر تاریخي شالید:

کشـمیر یـوه لرغونـې، تاریخـي او تمدنـي سـیمه ده چـې د بودایـي، برهمنـي او اسلامـي تمدنونـو ګـډ کـور پاتـې شـوې ده. دا سـیمه د طبیعـي ښـکلا، روحانیـت او علمـي ارزښتونو له امله د "ځمکني جنت" په نوم يادېده.
د مسـلمانانو د واکمنـۍ پـه دوران کـې، کشـمیر د علـم، ادب، سـوداګرۍ او فرهنـګ یـو سـتر مرکـز و. جوماتونـه، مـدارس، کتابتونونـه او خانقـا ګانـې د دې خـاورې فرهنګـي هویت جوړونکـي عناصر وو، مسـلمانو واکمنانـو دلتـه د رواداری، مذهبـي زغـم او تمدنـي وحدت مثال وړاندې کړی و، چې د سیمې د سولې او پرمختګ لامل ګرځېدلی و.
خـو د ۱۹مـې پېـړۍ پـه نیمایـي کـې، اسـتعمار د دې جنتـي ټاټوبـي پـر برخلیـك سـودا وکـړه. پـه ۱۸٤٦م کال کـې، د امریتسـر تـړون لـه مخـې، برتانـوي اسـتعمار کشـمیر د ۷۵ لکـه روپیـو پـه بـدل کـې د هنـدي دوګـرا واکمـن ګلاب سـنګ تـه وسـپاره. دا تاریخـي معاملـه نـه یـوازې د کشـمیریانو د ملـي ارادې خلاف وه، بلکـې د هغـوی د سیاسـي او انسـاني حقونو څخه ښکاره سرغړونه هم وه.

کلـه چـې پـه ۱۹۴۷م کال کـې برتانـوي هنـد وویشـل شـو، کـشـمير يـوه لـه هغـو سيمو څخـه وه چـې اکثريـت برخـه يـې مسـلمانان وو، خـو د هنـد او پاکسـتان ترمنـځ د ویش پـر مهال د کشـميريانو د برخليـك ټاکلـو تـه هيـڅ توجـه ونـه شـوه. د دې پـر ځـای، دا سـيمه د دوارو هېوادونو ترمنځ د شخړې او جنجال سبب وګرځېده.

د کشمیر ویش:

د ۱۹۴۷م کال د هنـد او پاکسـتان لـه ویـش وروسـته، کشـمیر چـې د مسـلمان اکثريـت يوه مهمه سيمه وه، د کشميريانو له ارادې پرته په درې برخو وویشل شو:

۱ د هندوسـتان تـر ولکـې لانـدې کشـمير چـې پکـې جمـو، کشـمير او لـداخ شـامل وو. دا برخه د هند له لوري اشغال شوه او تر اوسه د هند تر نظامي ولکې لاندې ده.

۲ د پاکسـتان تـر ولکـې لانـدې کشـمير چـې پکـې "آزاد کشـمير" او "ګلګت-بلتسـتان" سـيمې راځـي. دا سـيمه د پاکسـتان تـر ادارې لانـدې ده، خـو تـر اوسـه يې دايمي سياسي حيثيت نه دی واضح شوی.

۳ د چيـن تـر ولکـې لانـدې برخـه د "اکسـای چيـن" پـه نـوم يـو مهـم سـتراتيژيك موقعيت لري، چې وروسته د چين له لوري ونيول شو او اوس د هغوی تر کنټرول لاندې ده.

دا درې اړخيـز ویـش، چـې د کشـميريانو لـه ګډون، مشـورې يـا رضـا پرتـه ترسـره شـو، د نړۍ پـه سياسـي تاريـخ کـې د يـو لـوی ظلـم پـه توګـه يادېږي. کشـميري ولـس تـه د خپـل برخليـك ټاکلـو لپـاره د ريفرنـډم يـا خپلواکـې پرېکـړې حـق نـه وو ورکـړل شـوی، چـې دا د ملګرو ملتونو له ګڼو پرېکړهليکونو او نړيوالو اصولو سره ښکاره تضاد لري.

د همـدې ویـش لـه کبلـه، تـر ننـه پـورې کشـمير د ناوتريخوالـي، پوځـي اشـغال، بشـري حقونو د نقض او د ملتونو د نه پېژندنې قرباني پاتې شوی دی.

د کشـمير لـوی جنګونـه: د کشـمير پـر سـر، هنـد او پاکسـتان تـر اوسـه درې لـوی او خونـړي جنګونـه کـړي دي. دا جګـړې، کـه څـه هـم د کشـمير پـه نـوم پيـل شـوې، خـو حقيقـت دا دی چـې هـدف پکـې د مظلـوم کشـميري ولـس خيـر نـه، بلکـې د دوارو هېوادونو د پوځي او سياسي واکمنو خپلې شومې موخې وې.

لومړی جنګ (۱۹۴۷-۱۹۴۸):

دا جګـړه د هنـد او پاکسـتان لـه ازادۍ وروسـته، سمدسـتي پيـل شـوه، کلـه چـې دوارو هېوادونـو هڅـه وکـړه کـشـمير تـر خپـل کنټـرول لانـدې راولـي. جګـړه د ملګـرو ملتونـو

تر مداخلې وروسته پای ته ورسېده، خو کشمیر په دوه برخو ووېشل شو.

دوهم جنګ (۱۹٦٥):

پاکستان هڅه وکړه چې د هندي کشمیر د ولس ملاتړ په کومان یو ناڅاپي یرغل وکړي، خو جګړه د دواړو خواوو د درنو تلفاتو سره ناکامه شوه. دا جګړه د تاشکند تړون پر اساس ختمه شوه.

درېیم جنګ (۱۹۹۹ – د کارګل جګړه):

د پاکستان پوځي جنرالانو د کارګل په سیمه کې د نفوذ هڅه وکړه. هند پوځي ځواب ورکړ، جګړه تر سختو تلفاتو وروسته پای ته ورسېده. دې جګړې د دواړو هېوادونو ترمنځ کړکېچ لا ژور کړ.

په دې ټولو جګړو کې چې سلګونه زره انسانان وژل شوي، اصلي قرباني يې د کشمیر بېګناه ولس و. دوی د یوه سیاسي شخړې په مینځ کې یرغمل پاتې شول، نه یې د سولې خوند ولید، نه د خپل برخلیك واك. دغه جنګونه د دې پر ځای چې ستونزه حل کړي، د هند او پاکستان ترمنځ دایمي دښمني، نظامي سیالي او سیمه ییزه بېثباتي زیاته کړه.

د کشمیر له مظلوم ولس سره ظلمونه:

کشمیر، چې یو وخت د ښکلا، ادب، دیني زغم او طبیعي نعمتونو ټاټوبی و، نن د نړۍ تر ټولو زیاته پوځي سیمه ګرځېدلې. دا سیمه د هندي او پاکستاني پوځ لخوا داسې محاصره شوې چې هلته هره ورځ ظلمونه، بشري سرغړونې او غیرانساني چلند دوام لري. دلته د کشمیري ولس پر ضد هغه کړنې ترسره کېږي، چې د بشري حقونو له ټولو نړیوالو اصولو سره ښکاره ټکر لري.

زرګونه کشمیریان له محکمې پرته وژل شوي، ځینې لادرکه شوي او نور د زندانونو په تیارو کې د سختې شکنجې لاندې دي، د ښځو او نجونو پر وړاندې جنسي تېري، په ځانګړې توګه د پوځونو له لوري، نه یوازې د کورنۍ، بلکې د ټول ملت عزت ته سپکاوی دی. دا جرمونه مستند دي او نړیوالو ادارو یې هم راپورونه خپاره کړي دي.

د ولس کورونه، دوکانونه او مالونه د پوځي عملیاتو پر مهال په بېرحمۍ له منځه وړل کېږي، کورنۍ بېسر پناه پاتې کېږي، د تعلیمي ادارو بندول، پر زده

کوونکـو تشـدد او د روغتیایـي خدمتونـو نشـتوالی، د نسـل د تباهـۍ یـوه بلـه بڼـه ده. سـوداګرۍ محـدوده شـوې، د کار زمینـه لـه منځـه وړل شـوې، خلـك لـه خپلـو کورنیـو او کلیو سره د اړیکو له نعمت بې‌برخې دي.

کشـمیر نـن د نړۍ د بشـري ناورینونـو پـه کتـار کـې راځـي، خـود سـترو قدرتونـو سیاسـي کتـو دا فاجعـه پټـه سـاتلې. کشـمیریان د ژونـد، ازادۍ، تعلیـم، کار او عـزت لـه حقـه محروم دي او دا یوه روانه فاجعه ده، چې باید نور له پامه و نه غورځول شي.

د پاکستان تر ولکې لاندې کشمیر – د آزادۍ په نوم پوځي اداره:

کـه څـه هـم پاکسـتان پـه نړیوالـو فورمونـو کـې ځـان د کشـمیریانو ملاتـړی ښـیي، خـو د پاکسـتان تـر ولکـې لانـدې کشـمیر (GILGIT-BALTISTAN او AZAD KASHMIR) کـې حقایق بـل ډول دي. دلتـه نـه د خلکـو واك چلیـږي، نـه سیاسـي ازادي شـته او نـه هـم د خپل برخلیك د ټاکلو حق:

۱ سیاسي او مدني ازادۍ نشته:

د ازاد کشـمیر ولـس تـه د بیـان، سیاسـت او پرېکـړې حـق نـه ورکـول کېـږي. سیاسـي فعالیتونه د پوځ، استخباراتو او مقرراتو لاندې سخت محدود شوي.

۲ ګلګت بلتستان:

دا سـیمه پاکسـتان د سـتراتیژیك هـدف لپـاره لـه اصلـي کشـمیري قضیـې جلا کـړې؛ نـه یې بشپړ حقوق ورکړي، نه سیاسي واك، او نه هم د هویت او ملکیت حقونه.

۳ سیاسي پروسې د پوځ تر کنټرول لاندې دي:

پـه ظاهـره ټاکنـې کېـږي، خـو ټـول نومانـدان او ګوندونـه بایـد لـه پاکسـتان سـره "وفاداري" وښـیي او د پاکسـتاي پوځـي رژیـم تابـع وي. د پاکسـتان اسـتخبارات د انتخاباتـو تر شا اصلي تصمیم نیوونکي دي.

۴ ناقانونه مداخلې او عسکري حضور:

د پاکسـتان پـوځ هلتـه د هـرې سـترې پرېکـړې واك لـري. د سـیمې قانونـي ادارې لـه واکـه لوېدلي او ولس ځان بې‌اختیاره ګڼي.

۵ آزاد کشمیر – یوازې یو نوم، نه واقعي وضعیت:

د "آزاد" کلمـه یـوازې تشـو سـرلیکونو او بنرونـو تـه پاتـې شـوې. پـه حقیقـت کـې دا یـوه پوځـي اداره ده چـې د پاکسـتان مرکـزي ادارو لـه لـوري چلـول کېـږي، د پاکسـتان تـر

ولکـې لانـدې کـشـمیر د خپلـو حقونـو لـه تحقـق نـه محرومـه سـیمه ده، چـې هلتـه ولـس د هند تر اشغال لاندې کشمیر په څېر له ظلم، محرومیت او بېوسۍ سره مخ دی.

پوښتنه دا ده چې؛ پاکستان ولې پر کشمیري ولسونو ظلمونه کوي؟

د پاکـسـتان لـه لـوري د کـشـمیر د ولـس پـر وړانـدې ظلمونـه تصادفـي نـه دي، بلکـې د څـو مهمو اهدافو لپاره ترسره کېږي،

لومـړی: کـشـمیر د چیـن، هنـد، مرکـزي او جنوبـي آسـیا ترمنـځ مهـم جغرافیایـي موقعیـت لـري. پاکـسـتان هڅـه کـوي چـې دا سـیمه د پوځـي ځـواك پـه مـټ کنټـرول کـړي، څـو د سـیمهییز نفـوذ تلـه خپلـه کـړي او چیـن تـه د "CHINA–PAKISTAN ECONOMIC CORRIDOR (CPEC)" د خوندي ساتلو ضمانت ورکړي.

دوهم: پاکستان د کشمیر نوم د خپلو داخلي کتو لپاره کاروي:

- د پوځ لپاره د اضافي بودیجې اخیستلو پلمه
- د ولس ذهن د اصلي ستونزو (اقتصاد، فساد) نه اړول
- د هند پر ضد د تبلیغاتي سیاست وسیله
- د نړیوالو همدردیو او مرستو راجلب

دریـم: د پاکـسـتان پـوځ کـشـمیر د یـوه "دوامـدار جنجـال" پـه توګـه سـاتي، ترڅـو: د ملـي بودجې زیاتره برخه ځان ته ځانګړې کړي:

- پر سیاسي نظام فشار راولي
- ولسي حکومتونه بېوسه کړي
- خپله مداخله قانوني وښیي

څلورم: د پاکـسـتان پوځـي رژیـم د همـدې اهدافـو د پلـي کولـو لپـاره دا کارونـه کـوي، هـر هغـه څـوك چـې د خپلـو حقونـو غـږ پورتـه کـړي، خاموشـه کېـږي، مخکـښ مشـران، وکـیلان، ژورنالسـتان او مدنـي فعـالان پرتـه لـه محاکمـې بنـدي کېـږي، رسنۍ محـدودې دي، انټرنـټ بندېږي او ښـتینې کیسـې خپرېـدلای نـه شـي او د سـیمې واقعـي اسـتازي لـه واکـه شړل کېږي او د پوځ د خوښې کسان یې پر ځای مقررېږي.

بنـاً پاکستان کشـمیر تـه د یـوې سـیمې پـه توګـه نـه، بلکـې د یـوې سیاسـي وسـیلې پـه توګـه ګـوري. د کـشـمیر ولـس یـې نـه خپلـواك کـړی، نـه یـې عـزت ورکـړی او نـه یـې د ژونـد اساسـي حقونـه ورکـړي دي. دا د شـطرنج یـوه سـتراتیژیکه لوبـه ده، خـو

قربانیان يې کشمیري ولس دی.

ولې کشمیریانو ته په پاکستاني ادارو، پارلمان او کابینه کې ځای نه ورکول کېږي؟

دا یوه ژوره او سیستماتیکه ستونزه ده چې د پاکستان د پوځي جوړښت او دوه‌مخي سیاست ښکارنده ده. که څه هم پاکستان ظاهراً د کشمیریانو د ملاتړ دعوه کوي، خو عملي چلند يې بل حقیقت څرګندوي، پاکستان کشمیر رسماً د خپل هېواد جزء نه ګڼي، خو عملاً يې تابع کړی او اداره کوي يې. دا تضاد د دې سبب شوی چې کشمیریان د هیڅ رسمي سیاسي حق څښتنان نه دي.

د پاکستان اساسي قانون کشمیریانو ته د بشپړ تابعیت، مدني حقونو او سیاسي مشارکت ضمانت نه ورکوي. دوی د نورو پاکستانیانو غوندې برابر حقوق نه لري. په "آزاد کشمیر" کې ټاکنې د پوځ او استخباراتو تر مستقیم کنټرول لاندې وي. ټاکنې آزادې نه دي او د حقیقي سیاسي استازیتوب مانا نه لري. د ګلګت بلتستان اوسېدونکي خو له پارلماني استازیتوبه بیخي بې‌برخې دي او په کابینه، ملي پارلمان او پوځ کې کشمیریان یوازې د تشخص لپاره محدود ځای لري، خو پرېکړه سازي، واک او اختیار نه لري. دا دول حضور یوازې د ننداري لپاره دی.

دا ټول موارد دا ثابته وي چې پاکستان کشمیریانو ته د هویت، واک او استازیتوب حق نه ورکوي. دا د سیاسي بې‌عدالتۍ یو ښکاره ثبوت دی او ښيي چې د پاکستان د کشمیر پالیسي یوازې یو استعماري او پوځي هدف لري، نه د ولس هوساینه.

ولې د پاکستان تر ولکې لاندې کشمیر ولس ته خدمت، تعلیم او اسانتیاوې نشته؟

د پاکستان تر ولکې لاندې کشمیر، که هغه آزاد کشمیر وي یا GILGIT–BALTISTAN، د بې‌پامۍ، اقتصادي شرېدو او پراخې محرومۍ سره مخ دی. که څه هم پاکستان د نړیوالو په وړاندې د "کشمیر د ملاتړ" دعوه کوي، خو په عمل کې يې له ولس سره نه یوازې مرسته نه ده کړې، بلکې دا ولس يې له اساسي انساني حقونو محروم کړی دی، د پاکستان دولت هدف "واقعي پرمختګ" نه، بلکې "سیاسي ګټه‌اخیستنه" ده. د کشمیر نوم یوازې د هند ضد شعارونو لپاره کارېږي، نه د ولس د سوکالۍ لپاره.

په سیمه کې بنسټیزو خدماتو ته پام نه دی شوی. نه لویې پروژې شته، نه رغنیزې

پانګونې، سړکونه، پلونه، او نور اساسي زیربناوې یا له منځه تللې، یا هم بیخي نه دي جوړې شوې. ښوونځي، پوهنتونونه او تخنیکي اداري خورا محدودې دي. د تعلیم معیار ټیټ دی او د لوړ تحصیل لپاره ځوانان باید نورو ایالتونو ته مهاجر شي. روغتونونه کم دي، تجهیزات نشته دي او متخصص ډاکټران په سیمه کې نه پرېښودل کېږي. خلك د عادي ناروغیو درملنې لپاره لیرې سیمو ته مجبوره سفرونه کوي او د کرنې، صنعت او سوداګرۍ بازارونه له منځه تللي. ځوانان د بیکارۍ له کبله مجبور دي چې پنجاب، سند یا خیبر ته د مزدورۍ لپاره کډه وکړي.

د پاکستان له خوا د کشمیر لپاره عملي پاملرنه نه، بلکې اقتصادي شړیدو ته شوې دی. دا یو قصدي سیاست دی، څو د سیمې خلك د فقر، بې‌تعلیمي او محرومیت له لارې خاموش وساتل شي او له سیاسي شعور څخه بې‌برخې پاتې شي.

د کشمیر ولس په ځانګړې توګه د پاکستان تر ولکې لاندې ولس ته څه کول په کار دي

د کشمیر ولس د ازادۍ او خپلواك برخلیك لپاره، یوازینۍ مؤثره لاره دا ده چې دا ملت د هوښیارۍ، شعور، اتحاد او دوامدارې مدني، سیاسي او جهادي مبارزې پر لور حرکت وکړي. هغه ولس چې خپل هویت، کلتور او ژبه وساتي، هیڅ اشغالګر نه شي ورسره اوږد مهاله زور چلولی. کشمیریانو ته په کار ده چې د خپل ژبني، فرهنګي او تاریخي شتمنیو ارزښت درك کړي او د پاکستان او هند له فرهنګي استعماره یې وژغوري.

د مظاهرو، قلم، رسنیو، تحلیلي لیکنو او نړیوالو حقوقي میکانیزمونو له لارې دې خپل غږ پورته کړي داخلي اختلافات او تفرقې د اشغالګرو تر ټولو لویه وسیله ده، نو ولس باید د یو ملت، یو غږ او یو هدف پر اصولو ولاړ وي، څو د بهرنیو مداخلو مخه ونیسي.

د معلوماتو خپرونه هم یو حیاتي اړخ دی. هر ظلم، تری تم، شکنجه، محرومیت او تبعیض باید په اسنادو مستند شي، نړیوالو رسنیو ته وسپارل شي او د ملګرو ملتونو، اسلامي همکاریو سازمان (OIC)، اروپایي ټولنې (EU) او نورو ادارو سره شریك شي. د نړیوالو فشارونو رامنځته کول د اشغالګرو لپاره یو ستر خنډ کېدای شي.

تعلیم او فکري بیداري دې د کشمیري نسل لپاره د خپلواکۍ د مفکورې ستنه شي او د همدغو هڅو له لارې دې د پاکستان او هند له ظالمانه وسلوال تسلط نه ځانونه خلاص کړي.

د پاکستان تر ولکې لاندې نهادونه او تش په نوم ادارې، چې د آزادۍ په نامه د پوخ تر ادارې لاندې دي، باید افشا شي. ولس دې درك كړي چې دا "آزاد" کشمیر نه، بلکې د پوځي ادارو یوه نمایشي سیمه ده. د خپلواك فکر او ملي ارادې نه لرل، د سیاسي غلامۍ بېلګه لري.

له نړیوالو او سیمهییزو ازادۍغوښتونکو ملتونو سره یووالی هم یو مهم ګام دی. له فلسطینیانو، بلوڅانو، کردانو او اویغورانو سره د تجربو شریکول او نړیوالو څېړونکو، خبریالانو او پوهانو ته د کشمیر قضیه سپارل، کولی شي دا مظلوم ولس نړیوال وجداني وجدان ته ور وپېژني.

په پای کې:

کشمیریانو ته پکار ده تر څو پوه شي چې پاکستان د دوی د برخلیك مالك نه دی. د خپل حق، عزت، هویت، واك او خاورې د دفاع یوازې هغه ولس کولی شي چې متحد وي، شعور ولري، مبارزې وکړي او اوږدمهاله ستراتیژۍ تعقیب کړي. دا ملت باید اوس پرېکړه وکړي تر څو له غلامۍ، د رښتیني آزادۍ پر لور ګام واخلي.

د کشمیر قضیه یوازې یوه سیمهییزه شخړه نه ده، بلکې دا د یو مظلوم ملت د هویت، عزت او انساني کرامت مبارزه ده. له ۱۹٤۷م کال راهیسې کشمیری ولس د جیوپولیتیکو سیالیو، پوځي سوداګریو او ستراتیژیکو موخو قرباني شوی، پاکستان ورڅخه د خپلو پوځي او سیاسي اهدافو لپاره کټه اخلي او نړیوال ځواکونه یې د خاموشو تماشهچیانو رول لوبوي.

د کشمیریانو بشري حقونه لکه د ژوند، تعلیم، آزادۍ، سیاست او هویت حق په دوامداره توګه تر پښو لاندې شوي. پر ځای د سولې، پرمختك او عدالت، پر دې ولس جګړه، سانسور، بېعدالتي او اقتصادي شړیدنه تپل شوې، د دې ولس اراده ځپل شوې، او د پاکستان پوځي رژیم د "آزادۍ" تر شعار لاندې یې نظامي اداره پرې تپلې ده.

د پورته ټولو واقعیتونو پر بنسټ، اوس وخت راغلی چې د نړۍ عدالتپاله انسانان، نړیوال سازمانونه، اسلامي نړۍ او بشري فعالان د کشمیر قضیه یوازې د کاغذي بحث پر ځای، په عادلانه حل باندې تمرکز وکړي. کشمیری ولس باید خپل سرنوشت پخپله وټاکي، خپله فیصله په خپله وکړي، خپل واك، په خپل اختیار کې ولري او دا ولس نور د پوځي لوبو وسیله پاتې نه شي.

# د ملګرو ملتونو غونډه؛ د پاکستان نه ختمېدونکې بې ځایه روایت

لیکـوال : عبدان صافی

په دنیـا کـې ډېرې داسـې خلـك هـم شـته چـې پـه دومـره شـدت، اعتمـاد او تکـرار سـره لـه حقیقتـه لـرې خبـرې کـوي چـې وروسـته بیـا د حقیقـت او دروغـو ترمنـځ ورتـه پخپلـه هـم توپیـر کـول ډېـر ګـران او سـتونزمن شـي. د ډېـرو او مسلسـلو بـې ځایـه خبـرو لـه املـه د دې خلکـو وجدان ورو ورو مـړ کېـږي تـر دې چـې پخپلـه هـم د خپلـو خـود سـاخته او لـه ځانـه د جـوړ شـویو کیسـو اسـیران شـي. دا ډول خلـك نـه یـوازې نـورو تـه تـاوان رسـوي، بلکـې خپلـه هم د دروغو په نړۍ کې بند پاتې کېږي او د حقیقت له رڼا بې برخې کېږي.

لـه دغـه ډلـې یـې یـو هـم پاکسـتان او د پاکسـتاني ریاسـت چارواکـي دي چـې د خپلـو مفاداتـو لپـاره لـه هـرې لارې چـارې کار اخلـي او پـه ګاونډیـو هېوادونـو بانـدې د تورونـو لګولـو یـوه نـه ختمېدونکـې لـړۍ یـې روانـه سـاتلې ده. دوی د خپلـو ناکامیـو پـړه همېـش پـه افغانسـتان او هندوسـتان اچـوي او پـه هـر فـورم او سـټېج بانـدې پـه افغانسـتان کـې د ترهګـرو ډلـو د موجودیـت پـه اړه ناسـم معلومـات خپـروي او د نړیوالـو د ګمـراه کولـو کوښښ کوي.

**په افغانستان د دا ډول تورونو حقیقت څه دی؟!**

تېـره ورځ د ملګـرو ملتونـو د امنیـت شـورا پـه یـوه غونـډه کـې یـو ځـل بیـا دا دعـوه تکـرار شـوه چـې ګواکـې پـه افغانسـتان کـې "ترهګـرې" ډلـې شـتون لـري چـې د نـړۍ او سیمې امنیـت تـه سـتر ګـواښ دي چـې د پاکسـتان لخـوا پکـې پـه ځانګـړي ډول د داعـش، تحریك طالبان پاکستان او بلوچ آزادۍ غوښتونکو یادونه شوې ده.

د داعـش، تحریـك طالبـان پاکسـتان او بلـوچ آزادۍ غوښـتونکو قضیـه اوسـنۍ نـه ده، بلکـې دا لـه ډېـره وختـه را روانـه ده، او د یـوې داسـې قضیـې لپـاره چـې عمـر یـې د افغانسـتان د اسلامـي امـارت لـه قیـام څخـه ډېـر وي، کـرم بلـل یـا پـرې الزامونـه لګـول هیـڅ مناسـب کـار نـه دی. د افغانسـتان اسلامـي امـارت د نـورو هېوادونـو پـر ضـد د خپلـې خـاورې د اسـتعمال اجـازه هیچـا تـه نـه ورکـوي او دا یـې پـه عمـل کـې ثابتـه کـړې هـم ده. تحریـك طالبـان

پاکستان او بلوچ آزادۍغوښتونکي په خپله خاوره موجود دي او له هغه ځایه خپل کارونه او چارې پرمخ وړي. د پاکستان ګڼو مشهورو سیاسیونو په ځو ځو واره په مطبوعاتي کنفرانسونو او مرکو کې په ښکاره ډول ویلي دي چې د خیبر پښتونخوا ځو ولسوالۍ لکه وزیرستان، ټانک، ډېره اسماعیل خان، لکي مروت، خیبر او داسې نورې سیمې عملاً د تحریک طالبان پاکستان په لاس کې دي او هلته متوازي حکومت چلوي.

په باجوړ کې د پاکستاني ادارو او حکومت په خوښه ورسره ځایي مشران د امن لپاره جرګې کوي او د دغه جرګو ویډیوګانې هم خپرې شوي دي، چې دا د دې ثبوت دی چې تحریک طالبان پاکستان په خپله خاوره موجود دی او د هماغه ځای څخه خپلو کارونو او فعالیتونو ته دوام ورکوي.

دغه راز، بلوچ آزادۍغوښتونکي هم دي چې تېرو نږدې وختونو کې یې د بلوچستان په ځو غټو ښارونو او کلیو لکه پنجګور، پنجدګ، خاران، کیچ او سوراب د موقت وخت لپاره ونیول او هلته تر دوه – درې ورځو موجود وو. پدې سربیره هغوی په میاشت کې ځو ځو ځله د پاکستان او بلوچستان ترمنځ په غځېدلو لارو درېږي، د پاکستاني فوجیانو پلټنه کوي، له موټرو یې ښکته کوي او برمته کوي یې. دا د دې ښکارندوي کوي چې بلوچ آزادۍ غوښتونکي په خپله خاوره موجود دي او هغوی ته د افغانستان د خاورې د استعمالولو اړتیا نشته او نه هم څوك په دومره ډېر تعداد سره د پولې څخه تېرېدلای شي ځکه د پاکستان حکومت د ادعاوو له مخې هغوی خپله پوله محفوظه کړې ده.

داعش خراسان چېرته دی؟ د داعش ابتداء د پاکستان په خاوره خېبر ایجنسی کې شوې وه چې بیا د خپلو کتو لپاره افغانستان ته را انتقال کړل شول.

اسلامي امارت د دوباره قیام څخه وروسته د داعش غوندې خارجي فکر لرونکې ډلې خلاف دومره موثر اقدامات اخیستي چې بل هیڅوك یې د کولو جرات او دعوه نه شي کولای، د همدې موثرو او قاطعو اقداماتو له برکته په افغانستان کې د داعشي خوارجو ریښې له منځه ولاړې او پاتې شوني یې کاوندي هېواد ته وتښتېدل چې له لومړۍ ورځې څخه د دوی اصلي پټنځای او مرکز و. هلته ورته د پاکستان استخباراتي ادارو غېږه خلاصه کړه او په بلوچستان کې یې ورته مرکزونه فعال او دوباره تجهیز

کړل چې بیا یې د خپلو کتو لپاره وکاروي.
پاکســتاني اســتخباراتي ادارو پــه دېــر چــل او فریــب د داعشــي خوارجــو فتنــه کــړې دلــې ځینــي غــړي لکــه شــریف اللــه عــرف جعفــر او اوغــوز التــون ونیــول، چــې شــریف الله یــې وروسته بیا په لوړ قیمت امریکا ته هم وسپاره.
لــه دې ور هاخــوا، څــو میاشــتې مخکــې د بلوچســتان پــه مســتونګ ســیمه کــې د داعشــي خوارجــو پــه مرکزونــو بریدونــه ترســره شــو چــې د داعــش کــڼ شــمېر غــړي پکــې ووژل شــول. اوس پوښــتنه دا ده چــې د داعــش مرکزونــو او پــه دومــره کــڼ شــمېر داعشــیانو پــه بلوچســتان کــې څــه کــول؟ بیــا داعــش پــه ښــکاره پــه یــوه ویډیــو کــې د دغــه برید د انتقام د بلوچ آزادۍغوښتونکو څخه د اخیستو اخطار ورکړ.
دا ټــول شــواهد ښــکاره کــوي چــې د داعــش مراکــز د پاکســتان پــه بلوچســتان کــې دي او په دې اړه په افغانستان تورونه لګول د حقیقت نه لېرې او ناسم قضاوت دی.
یــاده دې وي چــې پــه افغانســتان کــې کــڼ شــمېر داعشــي خــوارج نیــول شــوي او د هغــوی اعترافي بیانونــه هــم لــه المرصــاد څخــه خپــاره شــوي دي چــې د بلوچســتان لــه مرکزونــو څخــه صــرف افغانســتان تــه نــه بلکــې د ســیمې نــورو هیوادونــو تــه هــم د تخریبــي کارونــو لپــاره لېږدول شوي وو.
د ملکــرو ملتونــو د تورونــو ترشــا عوامــل څــه دي؟ ملکــري ملتونــه چــې د امریــکا تــر اثــر او قــوت لانــدې دي، هــر هغــه څــه وایــي چــې امریــکا پــرې خوشــحالیږي او امریــکا تــه پــه افغانســتان کــې لــه شــرمونکې ماتــې خوړلــو وروســته بــل څــه نــه دي ورپاتــې، پرتــه لــه دې چــې د افغانســتان د اسلامــي امــارت پــر ضــد پروپاګنــد وکــړي او هغــوی بدنامــه کــړي څکــه هــر څــو ورځــې وروســته دغــه تکــراري کړنــه بیــا بیــا تکــراروي او د خپلــې ماتــې غصه پرې سړوي.
امریــکا او ملکــري ملتونــه د خپلــو سیاســتونو او مفکــورو د تطبیــق لپــاره داســې غونــډې او راپورونــه د فشــار د آلــې پــه توګــه اســتعمالوي، کنــې کــه وکتــل شــي نــو څــو واره امریکایــي اســتخباراتو او آزادو ادارو د افغانســتان د اوســني حکومــت د داعــش ســره د مبــارزې او اقداماتــو ســتاینه کــړې ده، دا بیلــه خبــره ده چــې د افغانســتان اسلامــي امــارت دا اقدامــات د خپلو خلکو د خوندیتوب لپاره کړي دي نه د چا د ستاینې او پردیو کتو په خاطر.
بلــه دا چــې ملکــري ملتونــه د افغانســتان پــه اړه د پاکســتان پــه راپورونــو تکیــه کــوي

چې د پاکستان د بغض او ذاتي مخالفت نه ډك وي، پاکستان په هر نړیوال ستېج د افغانستان د بدنامۍ لپاره څرګندونې کړي دي او تهمتونه یې لګولي دي، خو برعکس بیا افغانستان ته دا موقع په لاس نده ورکړل شوې چې د دې تهمتونو او دروغو جواب ووايي.

څه باید وشي؟

ملګری ملتونه که رښتیا هم د حقایقو په لټه کې وي، نو د افغانستان په اړه قضاوت دې د متعصبو ګاوندیو هېوادونو د راپورونو او دروغو په اساس نه کوي، بلکې مستقیماً دې د اسلامي امارت سره ارتباط او اړیکې ټینګې کړي او د حقیقت موندلو هڅه دې وکړي. د افغانستان اسلامي امارت د حقیقي او موثرو اقداماتو درناوی دې وشي او د الزامونو لګولو پرځای دې د اسلامي امارت لاسنیوی وشي چې د مسایلو د حل مستقل حل ته لاره پیدا شي.

# د اسد ۲٤مه؛ د اشغال پای، د عزت پیل !

لیکوال : شمس آرین

د افغانستان د تاریخ پاڼې د ویاړونو او قربانیو له وینو رنګینې دي، خو د ۲۰۲۱ میلادي کال د آګست ۱۵ مه او د ۱٤۰۰ لمریز کال د اسد په څلورویشتمه یوه داسې ورځ ثبت شوه چې د ازادۍ، ایمان او عزت زنګ یې په ټوله نړۍ کې وغږاوه. دا هغه ورځ وه چې د اسلامي امارت مجاهدینو د شل کلن جهاد ورو‌ستۍ پایله ترلاسه کړه او د کفري یرغل وروستی سنګر یې د کابل له ارګ څخه ونړاوه.

دا ورځ یوازې د یوې سیاسي بریا ورځ نه وه، بلکې دا د هغو سلګونو زرو شهیدانو د ارمان ورځ وه چې د الله د کلمې د لوړتیا او د وطن د آزادۍ لپاره یې خپل سرونه د شهادت په کانه وپسولل، هره کوڅه، هره دره، د هر غره لمن د دې قربانیو شاهد ده، د اسلامي امارت مجاهدینو د ایمان په وسله، د صبر په سپر او د توکل په زغره داسې جګړه وکړه چې نړۍ یې حیرانه کړه.

د پرمختللو ټانکونو، بمباریو او ټکنالوژۍ پر وړاندې یې د تکبیر او جهاد غږ پورته کړ او ویې ښودله چې کله الله د یو ملت مل وي، نو هېڅ ځواک یې ماتولی نشي، د اسد په څلورویشتمه، د کابل اسمان د تکبیرونو په غږونو ولړزېد او د ازادۍ رڼېدونکي بیرغونه د خلکو د اوښکو، موسکا او تکبیرونو په ګډه رنګین شول، دا ورځ د امید ورځ وه، د ذلت له زنځیرونو د خلاصون ورځ وه، او د اسلامي حاکمیت د بیا ټینګښت ورځ وه.

دا بری یوازې د یوې ورځې معجزه نه وه، دا د شلو کلونو له اوږده مزل وروسته ترلاسه شوې پایله وه، هغه مزل چې په کې مجاهدینو د واورو پر سر شپې تېرولې، د دښمن د چاپو او بمباریو پر وړاندې ټینګ ولاړ ول او د لوږې، تندې او بې وسۍ باوجود یې د ایمان سنګر پرې نه ښود.

د مجاهدینو سرښندنې یوازې په جګړه کې نه وې، بلکې هغوی د خلکو د ساتنې لپاره خپل ځانونه سپر کړل، د ولس عزت یې وساته، د یتیمانو سرپرستي یې وکړه او

د شـهیدانو کورنـۍ یـې د خپـل ځـان برخـه وګڼلـه. د هغـوی دا قربانـي او اخلاق د دې ملـت زړونـه ورسـره یوځـای کـړل، د شـهادت کیسـې د دې مـزل تـر ټولـو روښـانه بابونه دي، هغـه ځوانـان چـې د نـکاح نـه مخکـې یـې د جهـاد سـنګر تـه منـډې وهلـې، هغـه پلرونـه چـې د خپلـو زامنـو د جنـازې پـر سـر یـې وویـل: «الحمـد لله چـې زمـا زوی د الله پـه لار کـې شـهید شـو» – دا ټول د دې بریا بنسټونه ول.

د اسـد پـه څلورویشـتمه، افغانسـتان یـو ځـل بیـا د اسلامـي حاکمیـت تـر سـیوري لانـدې راغـی، دا ورځ د دې وطـن د ازادۍ او د امـت د عـزت نښـه شـوه او نـړۍ تـه یـې وښـوده چـې کـه ملـت یـو موټـی شـي، نـو د نـړۍ تـر ټولـو ځواکمـن یرغلګـر هـم پـه ګونـډو کېنـولای شـي، د اسلامـي امـارت راتـګ د دې ملـت لپـاره یـوازې د جغرافیـې آزادول نـه وو، بلکـې د عقیـدې، کلتـور او ارزښـتونو ژغـورل هـم وو. دا ورځ د دې ثبـوت شـوه چـې جهاد یـوازې د وسـلو جګړه نه ده، بلکې د صبر، حکمت او یووالي مبارزه ده.

نـن چـې مـوږ د اسـد د څلورویشـتمې کلیـزه لمانځـو، بایـد د هغـو ټولـو وینـو، قربانیـو او دعاګانـو قـدر وکـړو چـې د دې ورځـې د را رسـېدو سـبب شـوې. بایـد د وحـدت، خدمـت او ایمان په لار روان پاتې شو، څو د دې حماسې لاسته راوړنې تلپاتې وساتو.

## شهید اختر محمد منصور، هغه ځوک چې د تاریخپه ځیر ثابت قدمه و!

لیکوال: جنید زاهد

هغه شخصیت چې په خورا چوپتیا کې یې تدبیر او حکمت له ځانه سره درلودل، هغه د پراخ لید او راتلونکي اتکل نښه وه، هغه ځوك چې د اسلامي امت راتلونکی ورته ډېره مهمه او د غور وړ وه. هغه د امت د وحدت او د مسلمانانو د صف د بیا رغولو په فکر کې دومره ډوب و، چې دا خبره د هیچا پټه نه وه، د دین او اسلامي نظام دښمن یې په هر ډول جامو او پوښښ کې چې و، په ښه توګه تشخیص کاوه، هغه دمکر کوونکو له مکر، او د نوي استعمار تر پوښښ لاندې د مستعمرینو د تفکر له پټو درزونو څخه په ښه توګه خبر و.

په مختلفو پوښښونو کې د دښمن کثرت هیڅکله او حتی یوه شیبه هم د جهاد مقدسې لارې او د اسلام دعوت لارې ته د هغه لید نه و بدل کړی، د هغه عزم پولادي او فرمان یې د منلو وړ و، او لید یې مینه او شفقت و.

هغه خوارج چې د اسلام د ظهور په تاریخ کې، په نړۍ کې د سرطاني غدې په څېر د اسلامي هیوادونو په جغرافیایي پیکر کې موجود وو، د شهید اختر محمد منصور په نظر: حقیقي دښمن او بدخیمه سرطان دی، او باید له منځه یوړل شي.

د جهاد د تاریخ د دې ستر شخصیت په نابغه فکر کې، د خوارجو تور باطني دښمن؛ تر ټولو بد دښمن ګڼل کیده، هغه د مبارزې ډګر ته په ننوتلو سره، د فساد او تباهۍ سره جنګیده، فرق یې نه کاوه چې دا فساد او وحشت په کوم پوښښ او کوم نوم سره راڅرګند شوی وي. په سیمه کې د تیارې او تور دور په اوج کې، د مجاهدینو لپاره د څراغ په څېر و، او د هغوی لارښود شو، د خوارجو او د هغوی د نورو همپیمانونو پوچ فکر سیوری د هغه په هلو ځلو او مبارزو سره یې لنډ شوی و.

هغه د امت د عزت لپاره د مبارزې ډګر ته راغلی و، او هر هغه ځوك چې په هر پوښښ او فکر سره د اسلامي امت د عزت لار بنده کړې وه، هغه یې له منځه وړل او د هغوی ریښه او بنسټ یې سره شلولي و، په یقین سره ویلای شو چې د هغه په تدبیر او امارت لرلو سره به نړۍ ښکلې شوې او عدالت به پکې زیات شوی وای...

# د افغانستان له غرونو څخه د تاريخ تر زړه پورې !

لیکوال : عزیز حسام

۱۲ کاله وړاندې په همدې ورځ، د افغانستان د معاصر تاريخ يوې ستړې څېرې؛ هغه سړي چې هېواد يې له يوه مهلك او ورانوونکي باتلاقه وژغوره، د حق بلنه وويل او دې فاني نړۍ ته يې وداع وويله.

اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه‌الله، د اسلامي امارت بنسټګر او لومړنی امير، هغه څوك و چې رهبري يې په داسې حال کې په غاړه واخيسته چې هېواد په کورنيو او بهرنيو بحرانونو کې ډوب و، خو نوموړي د روښانه هدف او لويو ارمانونو درلودونکی و.

هغه په خپله جهادي لار کې بې‌شمېره کړاوونه او سختۍ وګاللې، خو سره له دې يې هېڅکله جهاد پرېنښود او د مبارزې ډګر يې ترك نه کړ. په افغانستان کې د کمونيستي حکومت له ړنګېدو او د کورنيو جګړو له پيلېدو وروسته، هېواد له بې‌پايه ننګونو سره مخامخ شو.

په همدې وخت کې و چې ملا محمد عمر مجاهد رحمه‌الله ډګر ته راووت او د طالبانو حرکت په تاسيس او ورپسې د کورنيو جګړو په پای ته رسولو سره يې په لومړي ځل د افغانستان په تاريخ کې پر اسلامي شريعت ولاړ حکومت اعلان کړ.

د افغانستان اسلامي امارت، په ځانګړې توګه د خپل حکومت په لومړيو کلونو کې، له ټولو ستونزو او خنډونو سره سره، وتوانېد چې په هېواد کې امنيت ټينګ کړي.

په داسې حال کې چې د افغانستان کړېدلي خلك د هېواد په ډېرو برخو کې د ظلم او ستم لاندې وو، اسلامي امارت د ملا محمد عمر په رهبرۍ وتوانېد چې نظم او عدالت ټينګ کړي او د هغو جنايتکارو ډلو مخه ونيسي چې هېواد يې کنډوالې ته کش کړی و.

اسلامي امارت د خپل لومړي پنځه کلن حکومت په اوږدو کې په افغانستان کې

دېرې ستونزې حل کړې؛ په دې ډول چې خلك وتوانېدل له سراسري امنیت څخه برخمن شي او هېواد له بحراني وضعیت څخه ووت.
افغانستان په هغه وخت کې د یوه خپلواك هېواد په توګه چې پر اسلامي قوانینو ولاړ حاکمیت لري، پېژندل کېده او بې‌شمېره هڅې وشوې چې هغه فساد او بې‌نظمي چې په پخوانیو دورو کې رواج وه، له منځه یوړل شي.
په دې دوران کې، عمراني پروژې پیل شوې، پر شریعت ولاړ قضایي سیستم پلي شو او د ډېرو جرمونو ګراف کم شو، د یادونې وړ ده چې ملا محمد عمر مجاهد رحمه‌الله په شخصي توګه د دې اصولو د پلي کېدو نظارت کاوه او تل یې د اسلامي قوانینو او شرعي اصولو پر تطبیق ټینګار درلود.
په ۲۰۰۱ کال کې پر افغانستان د امریکایي یرغلګرو او د هغوی د متحدینو په برید سره، د اسلامي امارت ځواکونو د عامو خلکو په صفوفو کې د لا زیاتو تلفاتو څخه د مخنیوي په خاطر له ښارونو څخه شاتګ وکړ.
دا شاتګ خو د مبارزې پای او یا د لارې پای نه و؛ ځکه چې امیرالمؤمنین ملا محمد عمر او د هغه تر امر لاندې ټولو مجاهدینو له ښارونو څخه له شاتګ وروسته مقاومت ته دوام ورکړ او سره له دې چې دنیوي امکانات نه وو، د عصر د طاغوت په مقابل کې یې کلکه مبارزه وکړه.
امیرالمؤمنین ملا محمد عمر هېڅکله د غرب غوښتنو او فرمایشاتو ته غاړه کېښوده او تسلیم نه کړ او آن د لویو کورنیو او نړیوالو کوښښونو په وړاندې یې مقاومت وکړ.
امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد یو عادي مشر نه و؛ هغه د رهبرۍ له برجسته ځانګړتیاوو سره سره، تل په دې باور و چې مسؤلیتونه باید د اصولو پر بنسټ وویشل شي، نه د فردي شخصیت پر بنسټ، او د نړۍ د نورو مشرانو په څېر د رسنیو د پام جلبولو یا د ځان لپاره د یوه لوی شخصیت جوړولو په لټه کې نه و، بلکې د هغه معیار د اسلامي شریعت تطبیق و او بس.
بالاخره په ۱۳۹۲ کال کې، امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد، د اسلامي امارت بنسټګر او د یرغل پر وړاندې د جهاد بیرغدار، خپل رب ته ورغی؛ دا دردناك خبر خو د جهاد د مصلحت او د هغه وخت د خاصو شرایطو له امله، تر دوه کاله وروسته اعلان نه شو؛ هغه خاموشي چې د هغو مشرانو د تدبیر یوه برخه وه چې په خپلو ځانونو او عقلونو

يې د اسلام له ارمانونو او د وطن له خپلواکۍ څخه دفاع وکړه.

نن چې اسلامي امارت يو ځل بيا زموږ په خاوره حاکم شوی، د هر مجاهد او مسلمان دنده ده چې د شهيدانو د وينې له امانت او د ملا محمد عمر په څېر د رښتينو مشرانو له زحمتونو څخه ساتنه وکړي.

په رښتيا چې اوس وخت را رسېدلی چې د کلك ايمان، عملي تقوا او خلکو ته له مننې پرته د خدمت په واسطه، د اسلامي امارت بنسټونه پياوړي کړو؛ هغه نظام چې زموږ پر اوږو د يوې درنې او الهي امانت په څېر اېښودل شوی او د هغه د ټينګښت لپاره، د ملا محمد عمر مجاهد په څېر لويو سړيو، له کوم دنيوي توقع پرته، خپل ژوند قربان کړ.

نن موږ د هغه لار وارثان يو چې د زرګونو شهيدانو په وينو رنګينه شوې او مسؤليت لرو چې د اسلامي ارزښتونو په ساتلو سره د توحيد بيرغ په دې خاوره کې اوچت وساتو.

# نړيواله جنايي محکمه کوم عدالت پلی کوي؟ !

لیکوال : شریف باور

په داسې عصر او زمانه کې چې هره ورځ په سلګونو فلسطيني ماشومان د اسرائيلو د صهيونستي رژيم تر بمباريو لاندې په وينو کې رنګيږي، د «نړيوالې جنايي محکمې» په نوم يوه محکمه د بشريت پر وړاندې دا ټول جرمونه او جنايتونه له پامه غورځوي، او د افغانستان د اسلامي امارت هغه مشران چې له کلونو جهاد او مبارزې وروسته يې په زړورتيا او مېړانه په خپل هېواد کې خپلواکي، امنيت او ارامي ټينګه کړې، په بند او محاکمې ګواښي.

دا هماغه عدالت دی چې لوېديځ پرې وياړي؛ هغه عدالت چې د غزې د ماشومانو پر وژنه سترګې پټوي، خو په افغانستان کې د هغو کسانو د محاکمې په لټه کې دی چې دې خاورې ته يې امنيت راوستی دی.

د افغانستان اسلامي امارت د خپل حکيم او مدبر مشرتابه په مشرۍ، له کلونو ناامنۍ او جګړې وروسته خلکو ته سوله او ثبات راوړی دی، د دې حکومت قوانين له اسلامي شريعت څخه اخيستل شوي؛ هغه شريعت چې پېړۍ پېړۍ يې بشريت ته عدالت راوړی، خو نن د لوېديځ په محکمو کې د بشريت ضد جرم په توګه محکومېږي ! ايا دا هماغه عدالت دی چې نړۍ پرې وياړي؟

نړيوالې محکمه، دې بې واکه اداري په وار وار ثابته کړې چې يوازې د سترو قدرتونو په لاس کې يوه وسيله ده، دا محکمه چې د اسرائيلو د وژنو په وړاندې چوپه خوله ده، نن د هغه مشرتابه پر وړاندې حکم صادروي چې توانېدلی افغانستان د اشغالګرو له منګولو وژغوري.

ايا دا ښکاره تبعيض په خپله يو ستر جنايت نه دی؟ ايا د غزې نارينه، ښځې او ماشومان انسانان نه دي؟ ولې ستاسې په خپله جوړ شوي قوانين هغوی نه شاملوي؟ ولې د اسرائيلو صهيونستي رژيم نه محاکمه کوئ؟

د اسلامي امارت مشر، يو داسې سړی دی چې په تدبير او پوهې سره يې افغانستان د

جګـړې لـه ګـړنګـه د امنیـت سـاحل تـه رسـولی دی، هغـه چـې تـل پـر اسلامـي عدالـت تېنـګـار کـوي، نـن د یـوې داسـې ادارې لـه خـوا تورنېـږي چـې پخپلـه د لوېدیځـو سیاسـتوالو تـر سـیوري لانـدې کار کـوي، دا هماغـه محکمـه ده چـې ان د غـزې د ماشـومانو د قصـاب یعنې نتانیاهو پر وړاندې یې د نیولو یو حکم هم نه دی پلي کړی.

نـن ورځ نـړۍ د عدالـت د یـوې مسـخره ننـدارې شـاهده ده؛ هغـه عدالـت چـې یـوازې د کمـزورو لپـاره پلـي کېـږي، خـو د افغانسـتان خلـك پـه خپـل ټینـګ ایمـان سـره، پوهېـږي چـې یـوازې الهـي عدالـت دی چـې پـر نـړۍ بـه واکمـن شـي، د لوېدیـځ جـوړې شـوې محکمـې بـه هېڅکله ونه شي کړای چې زموږ د مشرانو مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي.

رښـتینی عدالـت هغـه دی چـې د قـرآن کریـم لـه ژونـد بخښـونکو آیتونـو څخـه اخیسـتل شـوی وي، نـه د بـې واکـه محکمـو پـه سپارښـتي حکمونـو کـې؛ بایـد هېـره نشـي چـې هغـه سیاسـي محکمـې چـې د قـدرت د بادارانـو تـر څارنـې لانـدې د حقیقـت ریښـو تـه تېښـه وهـي، زموږ له نظره هېڅ صلاحیت او موضوعیت نه لري او حکمونه یې لغوه دي.

# پنځم فصل
# بېلابېلې لیکنې

# د کابل فتحه؛ د امریکا پر تابوت وروستی میخ !

لیکـنه : سلېندرډ سېنټ

د کابل سقوط، چې د ۲۰۲۱ کال د اګست په میاشت کې پېښ شو، د امریکا لپاره ناڅاپي ناکامي نه وه؛ بلکې دا د هغې اوږدې تراژیدۍ او غمیزې وروستی پرده وه، کومه چې د امریکا د نه پوهاوي له زخم څخه راټوکېدلې وه، د هغې نړۍ په باب چې دوی غوښتل ور باندې سلطنت وکړي.

ما کلونه د استخباراتي ادارو په مینځ کې تېر کړل، او په خپلو سترګو مې لیدل چې دې روند توب څنګه ورځ تر بلې وده کوله، پالیسۍ د حقایقو پر ځای د تسلي ورکوونکو خیالونو پر بنسټ ولاړې وې، موږ باور درلود چې په زور به عقیدې ماتې کړو، او دا چې د انسانانو باورونه به د بمونو د اور لاندې تسلیم شي، خو موږ خطا وو - ډېر، ډېر خطا !

د سپټمبر د یوولسمې نېټې له پېښو وروسته، موږ ځان ته تسلي ورکوله چې دا بریدونه د بې منطقه کرکې زېږنده وه، موږ د دې منلو ته تیار نه وو چې د سپټمبر د یولسمې طراحانو نه یوازې دا احساس درلود چې دوی د حق لوري ته ولاړ دي، بلکې دا یې پر ځان فرض ګڼله، هغوی د دفاعي جهاد هغه فریضه ترسره کوله چې د لسیزو امریکایي پوځي تېریو، بندیزونو، او د مسلمانانو د مقدسو خاورو د سپکاوي پر وړاندې یو واجب غبرګون و.

دوی د سپټمبر یوولسمې پیښې ته د تصادفي تشدد په سترګه نه کتل؛ بلکې دا یې د مقاومت د یوې بلې بڼې دوام باله، دا چې موږ دا منطق درک کاوه او که نه، دې خبرې هېڅ اهمیت نه درلود.

زموږ د دې خبرې نه انکار چې د هغوی د نړۍلید ته په جدي سترګه وګورو، دا یقیني کړه چې موږ به هماغه تېروتنې بیا بیا تکراروو، کومو چې دا غبرګون راپارولی و.

زه به هېڅکله هغه شېبه هېره نکړم چې زما د سترګو پر وړاندې د دفاع سیکرتر

ډونالډ رمزفیلډ تـه دا خبـر ورکـړل شـو، چـې ملا محمـد عمـر د اسـامه بـن لادن د سـپارلو انـکار کـړی دی، رمزفیلډ د غوسـې نـه سـور شـو؛ خپلـه څنـګل یـې پـه مېـز ووهلـه، او د قهر نه په ډکو چیغو یې وویل:

"دا سړی ولې دومره سر زوری دی؟ دا خلك ولې د عقل له پولو وتلي دي؟"

بیـا یـې زمـا پـر لـور، چـې یـو ځـوان افسـر وم او لا هـم پـه دې درنـه ناسـته کـې د کـډون د حیرانتیا له وجې غلی ولاړ وم، سترګې راواړولې، او په زوره وغړنګېد:

"ښه، ته څه ځواب لرې؟ څو بمونه باید پرې واچوو چې عمر دا سرغړونکی راوسپاري؟"

زه د وېـري او درنـاوي ترمنـځ ولاړ وم، زړه مـې رېږېـدو، خـو د خپلـې سـاه پـه راټولولـو مـې دا یوازینی خبره وکړه چې پرې پوهېدم:

"صاحب، هر څومره بمونه چې پرې وروا چوو، هومره به یې عزم نور هم کلك شي.

رمزفیلـډ، چـې شـا یـې اړولـې وه، ناڅاپـه لکـه تنـدر راوګرځېـد، او لـه دوسـیېو ډك یـو درونـد فایـل یـې د خونـې پـر سـر وغورځاوه؛ کـه څـه هـم دا یـې د چا د ویشـتلو پـه نیت نـه و، خو زه اړ شـوم چـې ځـان تیـت کـړم او د کـوزار نـه ځـان وژغـورم، پـه هماغـه شـېبه کـې دا هـر څـه یـو لـه هغـو ډېـرو تنـدو صحنـو نـه یـوه ښـکاریده، چـې مـوږ لـه پخـوا ورسـره اشـنا و، خـو بیـا وروسـته، کلـه چـې جګـړه کال پـه کال زمـوږ لـه کنټـرول څخـه وتلـه او حقایـق راښـکاره کیدل، زه پوه شوم چې دغه شیبې څه ستر راز رابرسېره کړی و.

پـه هغـه مانـۍ کـې چـې د نـړۍ د زبرځـواك ځواکمنـان پکـې ناسـت وو، مـوږ د هغـې جګـړې لـه طبیعـت نـه هېـڅ خبـر نـه وو، د کومـې جګـړې پـه لـور چـې مـو بـې لـه تدبیـره ګام اخسـتی و، د ملا عمـر انـکار لیونتـوب نـه و، بلکـې د اسلام لـه نظـره یـو فرضـي مکلفیـت و، پـه ځانګـړې توګـه د افغانانـو پـه کلتـور کـې هـم د هغـه مېلمـه سـره خیانت چې پناه ورته ورکړل شوی وي، نه بښل کېدونکی جرم ګڼل کېږي.

د بهرنـي یرغلګـر پـر وړانـدې دفاعـي جهاد کـوم اختیـاري کار نـه دی، بلکـې فـرض دی او کلـه چـې د امریکایـي عسـکرو قدمونـه د افغانسـتان خـاورې تـه داخـل شـول، نـو مقاومـت بیا یوازې یو انتخاب نه و، بلکې یو حتمي امر شو.

هـر ځـل چـې مـوږ جګـړه پسـې پراخولـه، هـر بـم چـې مـو پـرې کارولـو، د افغانانـو د دینـي وجیبې احساس نور هم ژورېده، او د مقاومت اور لا پسې ډېرېدو.

د سـي آی اې (CIA) دننـه مـوږ شـمېري تعقیبولـې چـې څومـره مـړي وشـول، څومـره ولایتونـه

خونـدي شـول، ځومـره ډالـر مصـرف شـول؛ خـو طالبـان د خـاورې، مـال يـا مقـام لپـاره نـه جنګېدل، هغوی د وفاداری لپاره جنګېدل، د خدای، عزت، او د خپل وطن لپاره.
هغـوی ځکـه جګـړه کولـه چـې ایمـان يـې ورتـه امـر کاوه، او دا چـې د زغـم دوام پخپلـه د بريـا يـوه بنـه ده، مـوږ پـه تيروتنـې سـره د دوی انضبـاط (سـمون) تندلارتـوب ګڼلـی و، فکـر مـو کاوه چـې کـه زور زيـات کـړو، کـه ډېـرې وسـلې او ډېـر ډالـر مصـرف کـړو، نـو بالاخـره بـه دوی زمـوږ خبـرې ومنـي، خـو مـوږ سـخت پـه خطـا و، ځومـره چـې مـو فشـار زيـات کـړ، هغومره د هغوی اراده نوره هم کلکه شوه.
افغانسـتان ځکـه بريالـی شـو او تحمـل يـې وکـړ چـې يـوازې ځواکمـن نـه و، بلکـې د دې خلکـو پـه زړونـو کـې لا هـم داسـې باورونـه موجـود دي چـې ژونـد يـوازې د بقـا لپـاره نـه دی، بلکې ځينې شيان د بقا نه هم ډېر مهم دي.
امريـکا ځکـه ناکامـه شـوه چـې دا يـې هېـر کـړل چـې داسـې باورونـه لا هـم ژونـدی دي، او هېـڅ امپراتـوري کـه څـه هـم هـره ځومـره ځواکمنـه وي، نشـي کـولای د غـه باورونـه د بمونـو، پيسـو يـا شـعارونو پـه زور لـه منځـه يوسـي، تـر څـو چـې امريـکا دا حقيقـت ونـه منـي، هـره راتلونکـې مداخلـه بـه يـی همداسـې پـه شـرم، سـترِيا او ماتـې سـره پـای تـه ورسيږي.

# داعش او د بلوڅانو قتل عام

لیکـوال : أبو خـلاد

مخکـې لـه دې چـې د بلـوڅ قـوم لـه ژونـد او اجتماعـي شـرایطو خبـر شـم. ماتـه د نـړۍ تـر ټولـو دربـدره قـوم پښـتانه معلومیـدل. مګـر کلـه مـې چـې د پاکسـتان او افغانسـتان پـه ځینـو بلـوڅ میشـتو سـیمو کـې د بلـوڅ قـوم د ژونـد حـالات ولیـدل نـو پـوه شـوم چـې پـه دې سـیمه کې شاید تر دې قوم بل مظلوم، وروسته پاته، د رحم وړ او دربدره قوم نه وي.

د بلوڅانـو سـره خـو یـو سـتر ظلـم اسـتعمار کـړی دی چـې د کردانـو غونـدې یـې درې ټوټـې کـړي دي. پـه کومـه سـیمه چـې دوی آبـاد دي، نـه پـه کـې زراعتـي ځمکـې شـته او نـه بهانــده اوبــه، وچ ریګونــه او ســوزنده صحراګانــې دي چــې د بلوڅانــو هیــڅ درد نــه دوا کـوي. تـر ځمکـه لانـدې زیرمـې یـې هغـه څـه دي چـې دې قـوم تـه ګټـه نـه کـوي بلکـې د ایران او پاکستان حکومتونه یې شپیلوي.

پـه بلوڅانـو کـې اوس هـم سـرداري نظـام پـه پـوره قـوت نافـذ دی. د اکثـرو خلکـو یـې داسـې بـاور جـوړ شـوی چـې هـر څـه تـر نـواب او سـردار ځـاروي. قومـي تربګنــی، قبیلویـت، بـې علمـي، بـې کـاري او د ژونـد وروسـته پاتـې شـرایط نـورې هغـه بدمرغـۍ دي چـې دغـه زړور او باتور قوم یې له ګوابښ سره مخ کړی دی.

پـه دې سـربیره د پاکسـتان او ایـران حکومتونـه هـم دې قـوم تـه د مسـاوي وطنـدار پـه نظـر نـه ګـوري. پاکسـتان یـې پـه بغـاوت او د هنـد د ملګرتیـا پـه بهانـه ځپـي او ایـران یـې سـني اسلام تـه د تعهـد لـه املـه ځوانـان اعداموي. پـه دې وروسـتیو کـې یـوه بلـه بلا هـم پـه بلـوڅ خاندان نازله شوې چې هغه د داعش فتنه ده.

تاریـخ مـوږ تـه راښـیي چـې لـس پیـړۍ وړانـدې هـم د سیسـتان یـا اوسـني بلوچسـتان سـیمه د هغـه مهـال د خوارجـو مهـم مرکـز او پټنځـای و. تـر دې چـې سـلطان محمـود غزنـوي او نـورو اسلامـي سلاطینـو خـوارج وټکـول او د ځمکـې لـه مخـې یـې ورك کـړل. خـو پـه اوس وخـت کـې یـو ځـل بیـا پـه دې سـیمه کـې د معاصـرو خوارجـو ( داعشـیانو ) د خـال خـال بریدونـه خبرونه په رسنیو کې راځي.

څه وخت وړاندې د بلوچستان په مستونګ کې په یوه غونډه کې د داعش یوه قاتل ځان منفجر کړ چې له ځان سره یې ۱۳۰ تنه عام بلوڅ مسلمانان شهیدان او یونیم سل تنه نور یې ټپیان کړل. له دې مقالې سره په راغلي لوړ عکس کې وینئ چې د داعش قاتل د ولسي خلکو په منځ کې ناست دی. دغه عکس له چاودنې څو شیبې مخکې اخیستل شوی دی. تاسو دې خلکو ته سم متوجه شئ چې آیا دا عام خلك د وژلو وړ دي او کنه؟

داعش په خپله اعلامیه کې چې د دې برید مسؤلیت یې منلی او د أعماق سایټ خپره کړې ده. ویلي دي چې دوی د مشرکینو په یوه غونډه باندې حمله کړې ده راځئ دلته همدې تصویر ته متوجه شو او بیا د خوارجو دعوه د انصاف په تله کې واچوو چې څومره وزن داره راخیږي.

آیا په تصویر کې ښکاریدونکي خلك کافران دي او که محلي مسلمانان؟

د دې خلکو له څیرو، رنګ او لباس، مسنونو ږیرو او ټول کیفیت څخه معلومیږي چې دا د بلوڅ قوم بې غرضه سني د اهل السنة والجماعة عقیدې والا مسلمانان دي. په دوی کې خو د کفر هیڅ نښه هم نه ښکاري.

دغه سپین ږیری چې د داعشي بریدګر چپ بغل ته ناست دی. تاسو د ده معصومیت ته وګورئ، زه په الله قسم کوم چې ده به دغه سوچه ږیره په اسلام کې سپینه کړې وي. دغه عاجز او بې غرضه بلوڅ کلیوال به ضرور د داعشي قساوت په لمبو کې وریت شوی وي. دا سپین ږیری بلوڅ مسلمان به اوس د الله تعالی په حضور کې وي. الله تعالی ته وایي چې زما ربه! زه خو دې پیدا کړم. خو په دنیا کې مې هیڅ هوس ونه لید. حکومتونو وتکولم. د غربت، فقر او ناروغیو امتحانات راباندې تیر شول. خو بیا مې هم پرتا ایمان درلود او ستا په دین مې لاس لګولي وو.

زما ربه آخر زما ګناه څه وه چې د بغدادي خلافت قاتلانو داسې په خپلو وینو سور کړم. ما کوم جرم کړی و چې د داسې سخت ترین عذاب مستحق شوم. زما ربه! یو ځل ستا په حضور کې ما او بغدادي سره مخامخ کړه تر څو پر ما زما کفر ثابت کړي او زما د وژلو دلیل راته ووایي.

داعش چې روزانه د داسې بې غرضه او معصومو مؤمنانو وینې تویوي. نو د دوی فکري سرلاري، د دوی د منهج او فکر اصلي مبلغین او هغوی چې دغه ناخبره ځوانان یې د

داعشـي ديالـکتيـك پـه ښـوولو او خپرولـو سـره لـه داسـې هلاکوونکـي فکـر څخـه ډك کـړي دي. پـه هيـڅ صـورت بـه د دغـو معصومـو وينـو لـه پـور څخـه خلاص نـه شـي. کـه دوی لـه داعـش څخـه علنـا بـرأت اعلان نـه کـړي نـو الله تعالـی بـه ضـرور دوی د قيامـت پـه ورځ را ونيسـي چـې ناخبـره بـې علمـه ځوانـان مـو ولـې لـه داسـې افراطـي او مؤمـن وژونکـي فکـر څخـه ډکـول، لږ خـو بـه مـو دا سـوچ هـم کاوه چـې آيـا بيـا يـې د کنټـرول او رهبـرۍ وس لـرو او کنه؟

د بلوچسـتان د ۱۳۰ تنـه مسـلمانانو د قتـل تـر څنـګ زمـوږ د هيـواد پـه ننګرهـار، کابـل، هـرات او نـورو سـيمو کـې د ناخبـرو سـني او شـيعه خلکـو بـې دريغـه وژل او د اسلامـي نـړۍ پـه کـوټ کـوټ کـې پـه مسـجد، مدرسـه، بـازار، مارکيـټ او هـر ځـای کـې د مسـلمانانو د وينـو رودونـه بهـول د داعـش خوارجـي ماهيـت بربنـدوي او دا ثابتـوي چـې داعشـي ذهنيـت نـه يـوازې د اسلام بلکـې د انسـاني فطـرت سـره مناقـض دی. ځکـه هيـڅ سـالم فکـر د الله تعالـی د اشـرف مخلـوق انسـان (چـې عيـال الله او بنيـان الـرب بلـل شـوی) د داسـې بې دريغه وژلو جواز نه شي ورکولای.

# صومالیا کې د پیسو د نه ورکړې په سر د داعش ګواښونو له امله سوداګریز ځایونه تړل شوي

لیکنه : المرصاد اداره

د صومالیا په باري ولایت کې یو شمېر سوداګرو خپلې هټۍ د داعشي خوارجو د ګواښونو له امله تړلې دي.

د صومالیا کاب تلوېزون د رمضان په ۲۲تمه (۱۳ اپرېل ) لیکلي، د باري ولایت په بوصاصو ښار کې یو شمېر سوداګرو تر هغه وروسته خپلې هټۍ وتړلې کله چې یې د داعشي خوارجو لخوا غوښتل شوې پیسې پوره نه کړای شوې.

د المصروف په نوم د یوه سیمه ییز صادراتي-وارداتي شرکت مسؤلین وایي چې په بوصاصو ښار کې یې خپل دفترونه او ستورونه تړلي، ځکه چې داعشیانو پنځه لکه ډالر ترې غوښتي او دوی یې نشي ورکولای.

د یاد شرکت د کارمندانو په خبره، د شرکت اړوند یو ستور څه موده وړاندې داعشي خوارجو سوځولی و، چې له امله یې دوی ته مالي او ځاني زیان اوښتی و.

د المصروف شرکت یوه کارکوونکي کاب تلوېزون ته ویلي، "په بوصاصو ښار کې سوداګر له سختو ګواښونو سره مخ دي، ځکه چې داعش په زور له خلکو پیسې اخلي او د نه ورکول کېدو په صورت کې د مرګ ګواښونه ورته کوي؛ داعش دا کار د خپلو عوائدو زیاتولو لپاره کوي".

مونږ سیمه‌ییز امنیت او ثبات ته
داسلامي شریعت د لارښوونو او د خپل هېواد د
مصالحو په رڼا کې ژمن یو. مونږ جګړه نه
غواړو، خو که جګړه پر مونږ تحمیل شي،
نو د خپل اسلامي شرعي نظام او اسلامي
خاورې د دفاع په لاره کې به داسې ورتیاوې
وښیو، چې ټولې اوسنۍ محاسبې به ناسمې
وښيي او جنګ غوښتونکي به د خپل ژوند
تر ټولو سخته پښېماني تجربه کړي.

پـه جامعه مصباح‌العلوم کې د فاضلانو په
فراغت غونډه کې د افغانستان اسلامي
امارت، د استخباراتو لوی ریاست مرستیال،

الحاج مولوي تاجمیر جواد حفظه‌الله

پیغام

𝕏 @Almirsad_Pashto t.me/almirsadpashto https://almirsaad.com